# په هېواد کې
# د مخدره توکو او نشه یانو
# مخه ډپ کول

Ketabton.com

محصل غازي زاده

۲۷/ ۴/ ۱۳۹۸ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د لیکنې نوم: په هېواد کې د مخدره تو او نشه یانو مخه ډپ کول

لیکوال: محصل غازي زاده

ایمیل: mghazizada@gmail.com

ګرځنده شمېره: +93783598561

دلیکنې نېټه: ۲۷/ سرطان/ ۱۳۹۸المریز

یادونه: هر څوک کولای شي چې دا لیکنه چاپ او خپره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سریزه ........ ۱
په هېواد کې د کوکنارو د کرهنې شالید ........ ۳
د مخدره موادو تولید او قاچاق ........ ٤
د شرابو او نیشه ورو شیانو حراموالی ........ ۷
د مخدره توکو حراموالی ........ ۱۰
د بنګو او کوکنارو د کرهنې حراموالی ........ ۱۵
د مخدره توکو د سوداګرۍ حراموالی ........ ۱٦
حرامخوري او د آخرت سزا ........ ۱۷
له حرامو صدقه نه قبلیدل ........ ۱۸
د نشه يي او مخدره توکو هر اړخیز تاوانونه ........ ۲۰
ټولنیزې او اقتصادي اغیزې: ........ ۲۰
روغتیایي اغیزې: ........ ۲۱
۱– شراب او الکول: ........ ۲۱
۲– افیون( Opium): ........ ۲۳
۳–کوکائین ( Cocaine): ........ ۲۳
۴– چرس: ........ ۲٤
۵– نسوار او سګرټ: ........ ۲۵
د موضوع اړونده د پند او عبرت قیصې ........ ۲۷
لومړۍ قیصه: ........ ۲۷
دویمه قیصه: ........ ۳۲
دریمه قیصه: ........ ۳٦
په اړونده مبارزه کې اړین ګامونه ........ ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

**الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالمرسلين، وعلى آله و آصحابه اجمعين! وبعد،،،،،**

د اسلامي شريعت عمده مقصد او اساسي موخه د پنځو شيانو ساتنه ده: ۱-دين: چې له هغې څخه د ګرځيدو (مرتد كيدو) په صورت كې اسلامي شريعت د مرتد وژنه فرض كړې. ۲-ځان: چې د هغې د خوندې پاتې كيدو لپاره يې قصاص او نور اړونده احكام فرض كړي. ۳- مال: چې د هغې د ساتنې لپاره يې د غله لاس قطع كول او نور اړونده لاري چارې فرض كړي. ۴- ناموس: چې دهغې د ساتنې او خوندي پاتې كيدو لپاره يې د نامحرمو او پرديو سړو او ښځو ترمنځ اختلاط حرام كړی، د زنا ټولې لارې يې تړلي او د زنا كوونكو لپاره يې رجم او يا په درو وهلو حد فرض كړی دی. ۵- عقل: چې د هغې حفاظت لپاره يې شراب او د ټولو نشه يې موادو استعمالول حرام كړی او كه څوك شراب وڅښي، نو د هغې لپاره په شريعت كې په درو وهل دي او كه كه يو څوك شرابو ته ورته نيشه يې او مخدره مواد استعمال كړي، نو د تعزير سزا - هغه چې ټاكلې حد نه لري بلكې د جرم او حالاتو برابر يې قاضي او يا حاكم ټاكي – مقرر كړی شوې ده.

كه چيرې زموږ په هيواد او ټولنه كې كې درې نيمې لسيزې مخكې د كمونستي حكومت له ړنګيدو (د ثور اتمه كال ۱۳۷۱ لمريز) وروسته د هغه مهال شتو ناخوالو او متوقع ستونزو د مخنيوي لپاره لازم كوښښونه شوي وايي، نو اوس به مو د نورو ستونزو ترڅنګ د روږدو ناخوالې او ستونزه دې حد ته نه وه رسيدلې. هغه ستونزه چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناورین بدله شوه او د معتادینوشمیر یې دعامې روغتیا وزارت د راپور له مخې تیر کال (۱۳۹۷لمریز) د غوایې په میاشت کې درې ملیونه ښودل شوې و، او سږ کال (۱۳۹۸ لمریز) د سرطان په میاشت کې د رسنیو د راپور له مخې دنشه یې او مخدره موادو په وسیله د ښکار شوو شمېر درې نیم میلونو ته رسیږي.

نو په یقیني توګه چې زمونږ ټولنې ته د نورو ګواښونو ترڅنګ نشه یان او د اړونده مخدره او نشه یې توکو تولید، صادریدل او یا له نورو هېوادو څخه بیلابیل نشه یې توکي راواریدل یو ستر ګواښ دی، باید چې د ټولنې مسئولین او با احساسه مومن وګړي یې درک کړي، مخه یې ډب کړي او د مخنیوي په لارو چارو باندې یې لاس پورې کړي.

نو د دې لپاره چې د خپل مسلمان ولس په ژغورنه کې مو خپله دیني وجیبه او مسئولیت اداء کړې وي د قدرمنو لوستونکو حضور ته دا متواضع لیکنه وړاندې کیږي، پدې موخه او هیله چې د دې ګواښ په مخ کې په کلکه سره ودریږي، د اړونده ستونزو په منځه وړلو او او لدې ستر ناورین څخه د هېوادوالو په وقایه او ژغورنه کې یې هر یو د خپلې وسې او توان برابر په لاس، ژبه، قلم او نورو اړونده لارو چارو سره خپله دنده او مسئولیت اداء کړي.

محصل غازي زاده

نیټه: ۱۵ ذو القعده ۱۴۴۰ هـ ق, ۱۳۹۸/۴/۲۷ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په هېواد کې د کوکنارو د کرهنې شالید

د برتانوي امبراطورۍ په دوران کې هندوستان چین ته د زیاتو مخدره موادو قاچاق کونکی هېواد وو چې په نتیجه کې یې د برطانیې او چین ترمنځ جګړې رامنځ ته شوې، هغه چې دافینو جنګونو [1] نوم ورکړ شو. نو زموږ هېواد ته د لومړي ځل لپاره دانګریز پلوو قاچاقبرانو لخوا د چین له ځمکې څخه د بدخشان له لارې کوکنار وارد شوی چې پدې توګه په سیمه کې د غه بوټی د انګریزي استعمار له خوا ترویج شوې دی.

له کومه وخته چې افغانستان ته د افینو د تولید بوټی (کوکنار) راداخل شو، په تدریجي شکل یې کښت او کر رواج وموند او هغه ولایتونه چې په پیل کې د دې بوټي کرهڼه پکې کیده او افیون یې تولیداوه: بدخشان، هلمند، ننګرهار او هرات وو، چې د وخت په تیریدو سره لدې ولایتونو څخه نورو ولایتونو لکه: بلخ، کونړ، لغمان، لوګر، پکتیا، وردګ، او کندهار ته هم نقل شو.

له ډېر پخوا راهسې ساحران او محلي طبیبان هم د افیون پر استعمال بوخت دي چې د هغې اغیزې او تاثیرات سحري او جادوګري ځواک ته راجع کوي، خو په وروسته وختونو کې بیا له افیون څخه د هیروینو تولید رواج وموند.

زموږ په هېواد کې پخوا د هیروینو تولید نه پېژندل کیده او د هغو سیاسي بدلونونو په نتیجه کې رامنځ ته شو چې د شلمې پیړۍ په اویاومو کلونو (اومې لسیزې) کې منځ ته راغلل. همدارنګه په آسیا کې د طلائي مثلث (تایلند، برما او لاوس) د افیونو خراب محصولات په سیمه کې د دې لامل شو چې د طلائي هلال (ایران، افغانستان او پاکستان) د مخدره موادو د زیات تولید په وسیله جبیره شي.

په افغانستان کې د افیونو تولید زیاتیدو لومړی لامل په ایران کې د خمیني انقلاب راتلل وو چې هلته پر مخدره موادو باندې بندیز ولګول شو او دویم لامل یې په افغانستان کې د کمونستي انقلاب له امله د جګړې او اسلامي مقاومت په دوران کې د نوموړي بوټي د کرنې لپاره زیاته زمینه برابریدل ښودل شوي دي،چې پای کې زموږ د هېواد او پاکستان ترمنځ د ګډې پولې په دواړو خواو کې ځینې قبایلي سیمې د کوکنارو د کښت او د افیونو د تولید مرکزونه وګرځیدل او کله چې پدې دوران کې پاکستان ته د هیروئینو د تولید تکنالوژي راوارد کړای شوه، نو د پولې په دواړو خواو کې ورڅخه د هیروئینو تولید پیل شو. [2]

---

[1]. د برطانې او چین ترمنځ د افینو له امله جنګونه لومړی جنګ ( 1840 – 1842م) او دویم جنګ ( 1856 - 1860 م) کلونو کې رامنځ ته شوې دی. وګوره:WIKIPEDIA The Free Encyclopedia : Opium wars

[2]. وګوره: د مخدره موادو په هکله اساسي معلومات، د اسرا مؤسسې خپرونه، ص ۶- ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مخدره موادو تولید او قاچاق

له ۲۰۰۱زیږدیز راپدیخوا او د موجوده نظام د پیل راهسې زموږ په هېواد کې د افیونو تولید صعودي (پورته ختلو) بڼه اختیار کړه، د دې پدیدې ترشاه بیلابیل عوامل دي چې مهم یې دریښتینې مبارزې نشتوالی دی، همدارنگه یو بل ستر عامل یې په حکومت کې د مافیایي باندونو نفوذ او قدرت ښودل شوی چې د هغو له لارې په سلونو وګړي اروپا او لرې پرتو هېوادونو ته هېروېین قاچاق کوي.[۳]

که څه هم په تیرو کلونو کې د مخدره موادو د مخنیوي لپاره په بیلابیلو وختونو کې ځانگړې بودیجې وغوښتل شوې او تر اوسه پورې چې له (۱، ۱۰۴ ملیارده) مرستو زیاتې مرستې له افغانستان سره شوې او د دې له جملې څخه یې (۷، ۶ ملیارده) د مخدره موادو د مخنیوي لپاره ځانگړې شوې وې.[۴] لکن دافغانستان د بیا رغاونې لپاره دامریکا ځانگړی ځارونکې مؤسسې (SIGAR) ادعا کړې چې له نشه ایزو موادو سره د مبارزې په برخه کښې یوازې امریکا نژدې اته نیم (8.5) میلیارده ډالره لګولي دي.[۵]

سره لدومره لګښتونو بیا هم د نوموړې بوټي او د هغې د تولید په مخنیوي کې لازم او ښکاره اغیز ونه لیدل شو چې لس سلنه نتیجه هم ترلاسه نه شوه او نه هغه پېسې د ۲۵ سلنې په اندازه په خپلې اصلي موخې کې ولګول شوې چې هغه د کوکنارو کرونده ګرو ته معاوضه ورکول او د دې حرام بوټي پر ځای د حلال فصل رواج دی، بلکې د هغې زیاتره اندازه شخصي جیبونو ته ولاړې او د درغلیانو ښکار وګرځیدې.

د ځینې راپورونو له مخې د ۲۰۱۵ م کال پر مهال په افغانستان کښې دکوکنارو کر پر یولک درې اتیا زره هیکټرو ځمکې ته رسیدلی وو، خو په ورپسې (۲۰۱۶م) کال کښې دکوکنارو کر دوه لکه یو زره هیکټرو ته ورزیات شو، چې پدې توګه د مخکیني کال په پرتله د د دې بوټې کښت او کر درې څلویښت (۴۳) فیصده زیات اټکل شوې وو، خو د کوکنارو د له مینځه وړلو کچه یونوي (۹۱) فیصده کمه شوې وه او له هرو پینځه سوه شپږ شپیته (۵۶۶) هیکټره ځمکو څخه دکوکنارو یو(۱) هیکټره ځمکې له مینځه وړل شوې وې..[۶]

د مخدره موادو د کنټرول نړیوال پروګرام اداري (UNDP) د راپور له مخې په کال (۱۳۹۵المریز) کې د مخدره موادو له درکه د (۷۰ ملیارده) ډالرو له عاید څخه یوازې ۲ ملیارده ډالر د هغې د کرونده ګرو لاسونو ته ورغلي او نور پاتې ۶۶ ملیارده ډالر قاچاقیانو او په بهر کې بین المللي مافیا ته ورغلي دي.[۷]

په کال (۱۳۹۶المریز) کې د مخدره موادو سره د مبارزې د ملي بسیج د اوونۍ په مناسبت په کابل کې جوړې شوې غونډې ته د حکومت ځینو چارواکو وویل چې مخدره موادو د افغانستان حیثیت او اعتبار زیانمن کړی دی، همداراز له مخدره موادو سره د مبارزې وزارت مخدره مواد یوه سیمه یزه ستونزه وګڼله او

---

[۳]. وګوره: اصلاح ملي اوونیزه، کال ۱۳۹۵ لمریز، عقرب ۱۵ مه، ص ۱۳

[۴]. وګوره: طلوع نیوز خبر ویبپاڼه، د زمري میاشت ۱۱ کال ۱۳۹۶

[۵]. وګوره: Pars Today ویبپاڼه، ۱۷/ ۵/ ۲۰۱۷م .

[۶]. وګوره: Pars Today ویبپاڼه، ۱۷/ ۵/ ۲۰۱۷م

[۷]. وګوره: اصلاح ملي اوونیزه، کال ۱۳۹۵ لمریز، عقرب ۱۵ مه، ص ۱۲- ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبر دارې یې ورکړ چې په افغانستان کې دننه د مخدره موادو د کښت تقاضا کمه شوې، خو په سلو کې ۹۸ د مافیایي ډلو له خوا د ګاونډیو هېوادونو له لارې اروپا ته قاچاک ېږي.[۸]

د افغانستان بیارغونې لپاره د امریکا ځانګړې څارونکې اداره "سیګار" وایي د نشه یي توکو د قاچاق او تولید ډېر کاروبار د دولت تر کنټرول لاندې نا امنه سیمو کې ترسره کېږي. نوموړې ادارې نیوکه کړې چې د امریکا د څو میلیارده ډالرو مرستې سربېره اوس هم د کوکنارو کرکیله او د نشه یي توکو تولید په لوړه کچه کې دی.د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې افغان چارواکي هم دا خبره مني خو وایي: د نشه یي توکو مخنیوي ته د دوی او امریکایي ځواکونو هڅې ډېرې شوې دي.

افغان حکومت څه وخت مخکې د نشه یي توکو په برخه کې د جزا کوډ هم بدل کړ او د دغو توکو قاچاق کوونکو، کرونده ګرو او کاروباریانو ته یې سزاوې هم سختې کړې، خو لا هم ستونزه پر خپل ځای پاتې ده.سیګار ویلي: له تېرې یوې لسیزې راهیسې افغانستان کې څه باندې څلورنیم لکه کیلوګرامه نشه یي توکي نیول شوي، خو د دوی په باور دا یوازې په ۲۰۱۷ م کال کې د تولید شویو نشه یي توکو نیم فیصد جوړوي .پدې کال کې د مخکې کال په پرتله د کوکنارو کرکیله ۶۳ سلنه او تولید یې چې نهه زره ټنه و، ۸۸ سلنه ډېر شوی دی.[۹]

له بده مرغه چې زموږ د هېواد د ځینې ولایتونو په اطرافي سیمو کې د چرسو او کوکنارو پرکښت باندې زیات شمېر دهقانان بوخت دي او د هغوی د زیار او زحمت نتیجه هغو معتادینو ته رسېږي چې د هېواد په بیلابیلو سیمو او ښارونو کې د چرسو او هیروینو له لارې خپل ځانونه له تباهۍ او خپلې کورنۍ او ټولنه له خطر سره مخ کوي.

له انقلابي شرایطو مخکې به عامو خلکو او ورسره ځینې علماو د کوکنارو د کرهنې جواز لپاره دا دلیل وایه چې دا یو حکیمې بوټی دی، خو د کمونستي انقلاب له رامنځ ته کیدو او بیا د هجرتونو د لړۍ له پیلیدو وروسته خاصو او عامو وګړو ټولو ته دا معلومه شوه چې د کوکنارو د تولید ماده (افیون) په سلو کې له ۹۷٪ څخه د انسانانو په تباهۍ کې استعمالیږي. نو ایا اوس به د کوکنارو کښت، تولید او سوداګرۍ په حرمت کې کوم د علم او پوهې خاوند څه ادنی شک وکړي؟ دا پداسې حال کې چې په خپله زموږ د افغان مسلمان ملت یو زیات شمېر بچیان د نشه کیدو او پوډري کیدو په ګرداب کې ورداخل شوي او دغه مصیبت لا په زیاتیدو دی.[۱۰]

داسې ده چې له موجوده جمهوري او دیموکراسي نظام له راتګه مخکې افغانستان د نړۍ زیات تولیدونکی هېواد ګڼل کیده' خو متاسفانه چې اوس یې له تولید سربېره پدې هېواد کې له افیون څخه د اړونده راویستل

---

۸. وګوره:ازادي راديو ويبپاڼه، ۳۱/ سرطان/ ۱۳۹۶المريز

۹. وګوره: بي بي سي پشتو ويبپاڼه: 13 می 2018 - ۲۳غويي ۱۳۹۷ هـ ش

۱۰. وګوره: ویجه ویله ( D W ) پښتو ، افغانستان ، ویبپاڼه (12.05.2015)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدونکو موادو استهلاک کوونکي (پوډریان) هم زیات شوي، چې دا هم د دیموکراسئ او غربي پانګوال نظام د واکمنئ یو سوغات دی.

په کال ۲۰۱۳م کې چې د مخدره موادو پر ضد اداري (INL) لخوا زموږ په هېواد کې د روږدو (معتادینو) کسانو په هکله کوم معلومات راجمع شوي او سروې شوې هغه ښیي چې یوولس سلنه ۱۱٪ هیوادوال د تریاک او هیروینو د استعمال پر مصیبت اخته او د دې نیمايي اندازه ۵.۵٪ د چرسو د فتنې ښکار ګرځیدلي دي. پر تریاکو، هیروینو او د هغې اړونده مشتقاتو باندې د روږدو خلکو شمېره د ښارونو پرنسبت په اطرافي سیمو کې درې چنده زیاته لیدل کیږي.[11]

تیر کال (۱۳۹۷ لمریز) د ثور په میاشت کې د عامې روغتیا وزارت لخوا په یو خپور شوي راپور کې ویل شوي چې د دولت له لورې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې سراتیژي ناکامه ده، د روږدو کسانو شمېر مخ په ډېرېدو دی او له ۲۰۰۹ م کال راهسې تر ۲۰۱۸ م کال پورې له ۹ سوه زرو څخه روږدو کسانو شمېر درې میلیونو ته لوړ شوی دی.[12]

که څه هم سږ کال (۱۳۹۸ لمریز کې) د اړونده راپورونو له مخې په هېواد کې د کوکنارو د کر کیلې کچه راټیټه شوې خو متاسفانه چې د روږدو کسانو شمېر درې نیم ملیونو ته لوړ شوی او دا ګواښ لا په زیاتیدو دی.

په هېواد کې د مخدره موادو د معتادینو په اړه دا ګونګوسئ هم اوریدل کیږي چې ګویا تر شاه یې ځینې بهرني لاسونه او داخلي مافیايي کړي دي. الله تعالی دې د اسلام او د ملت د دښمنانو لاسونه او لنډ او د هغوی دسیسې په خپله هغوی ته وروګرځوي.

نو باید چې ټول هېوادوال په ګډه سره د هر راز نشه یي توکو او مخدره موادو تولید، استعمال او سوداګرئ په وړاندې د خپل سپیڅلي دین لارښوونو ته مراجعه وکړي او د نورو فتنو ترڅنګ د دې مهمې فتنې، خطرناک ګواښ او ستر ناورین په مخنیوي کې هم د شرعي او انساني مسئولیت پر بنسټ په جدي توګه برخه واخلي.

---

[11]. وګوره: روغتیا مجله،۲۵ګڼه، ۱۳۹۳ لمریز, وزارت صحت عامه، ص ۳

[12]. وګوره: آزادي راديو ويبپاڼه، د ثور۲۳ مه، ۱۳۹۷ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شرابو او نیشه ورو شیانو حراموالی

الله تعالی فرمايي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ() إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ().[۱۳]- ای مومنانو بیشکه چې شراب او قمار او بتان او غشي (د فال) دا ټول د شیطان پلیت کارونه دي، نو ځان ورځخه وساتئ د دې لپاره چې کامیاب شئ. یقیا چې شیطان غواړي په شرابو او قمار سره ستاسې ترمنځ دښمني او کینه واچوي او د الله تعالی له ذکر او لمانځه نه مو واړوي، نو ایا تاسې به لدې څخه منع شئ؟)).

د عربي ژبې پوهان وايي: د (الخَمْر) کلمه په معنی د (**التخمير** – خومارول او بې سده کول) او (**التغطيه**- پټول ) او (**المخامرة** – ګډوډول) سره دي. نو د شرابو څښونکي د هغې په څښلو سره بې سده کیږي، عقل یې پټیږي او د عقل د ګډوډ کیدو او غايبيدو له حالت سره مخ کيږي.[۱۴]

په ذکر شوي قرآني نص کې د شرابو قطعي حرمت راغلی دی او په زیات شمېر احادیثو او د امت په اجماع سره هم شراب حرام دي. پدې ځای کې مونږ یوازې د هغو احادیثو یوه نمونه ذکر کوو چې هر نشه ورکوونکي څیز ته یکې شراب ویل شوي او د دې څرګندونه کوي چې هره نیشه حرامه ده :

۱ - له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:((**كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ** )).[۱۵] هر نیشه کونکی څیز شراب دي او هر نشه کونکی څیز حرام دی. او په بل روایت کې له همدغه صحابي نه نقل شوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: ((**كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ**)).[۱۶] هر نشه ورکونکی شراب دي او ټول شراب حرام دي.

۲ - رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((**مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيْلُهُ حَرَامٌ**))[۱۷] هغه چې ډېر یې نشه ورکوي، نو لږ یې هم حرام دي.

۳ - عَنِ ابْنِ عُمَرَ – رضى الله عنهما – قَالَ: خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم – فَقَالَ: (( أَمَّا بعدُ أَيُّها النَّاسُ إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَهْىَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ: الْعِنَبِ (وفي روايةٍ: الزَّبيب)، وَالتَّمْرِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ، وَالْعَسَلِ، وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ)).[۱۸] له ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی هغه وايي چې عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبنر خطبه وفرمایله او ویې ویل: ای خلکو د شرابو د تحریم حکم نازل شوی او هغه له پنځو شیانو څخه دي: انګور ( په بل روایت کې ممیز) خرما، غنم، اوربشې او ګبین. او شراب هغه دي چې عقل ګډوډ کوي او خوماروي.

باید یادونه یې وکړو چې د شرابو داصل مادې پر بنسټ د هغې په حکم کې علماء بیلابیل نظرونه لري:

---

[۱۳]. المائدة ۹۰- ۹۱

[۱۴]. وګوره: النهاية في غريب الحديث والاثر ابن الاثير ۲/ ۸۷، او لسان العرب ابن المنظور ۴/ ۲۵۴ (مادة خمر).

[۱۵]. مسلم

[۱۶]. مسلم

[۱۷]. سنن ابن ماجه,مسند احمد..

[۱۸]. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی- د مدیني منورې او ټول حجاز علماء، اهل حدیث، حنبلیان او ځیني شافعیان وایي: د خَمْر اطلاق په هر هغه شي کیږي چې لږ او یا ډېر یې نیشه ورکوي، برابره خبره ده چې له انګورو یا خرما، غنم، اوربشو او یانورو څخه جوړ شوی وي.

دویم- زیاتره شافعیان، امام ابویوسف او امام محمد (له احنافو څخه) او ځیني مالکیان وایي: چې خمر د انګورو شربت دی کله چې جوش کړی شي، برابره خبره ده چې ځګ راپوته کړي او یا نه.

درېیم- امام ابوحنیفه رحمه الله او ځیني شافعیان وایي: خمر د انګورو له شربت څخه وي چې کله جوش کړی شي. او په ځګ راپورته کولو سره یې یوازې امام ابوحنیفه رحمه الله مقید کوي، یعنې وروسته له جوشولو یې ځګ راپورته شي.

لدې بیان څخه څرګندیږي چې د لومړۍ ډلې علماو په نزد خمر په حقیقي توګه د نشه کونکو شیانو پر ټولو ډولونو باندې اطلاق کیږي، نو ددوی په نزد ټول مُسکر (نیشه ور) شیان شراب دي.

ددویمې او درېیمې ډلې په نزد خمر د انګورو شربت دی کله چې ښه وجوشول شي (ددویمې ډلې په نزد) او له جوش سربېره ځګ راوباسي ( ددریمې ډلې په نزد).[19]

که څه هم د حنفي مذهب د د دو امامانو (امام ابوحنیفه او ابویوسف رحمهما الله) په نزد د څښلو هغه شیان چې له انګورو پرته له بلې کومې میوې یا غلې څخه جوړ شي کله چې نیشه ونه لري نو حرام نه دي؛ ځکه چې د دوی له نظره شراب یوازې له انګورو څخه وي، لکن د امام محمد رحمه الله په نزد له انګورو پرته له نورو شیانو هم شراب وي چې د حرمت حکم یې د انګورو د شرابو غوندې دی. مشهور حنفي عالم الزیلعي رحمه الله ویلي دي:((وَالْفَتْوَى فِي زَمَانِنَا بِقَوْلِ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ – حَتَّى يُحَدَّ مَنْ سَكِرَ مِنْ الْأَشْرِبَةِ الْمُتَّخَذَةِ مِنْ الْحُبُوبِ وَالْعَسَلِ وَاللَّبَنِ وَالتِّينِ؛ لِأَنَّ الْفُسَّاقَ يَجْتَمِعُونَ عَلَى هَذِهِ الْأَشْرِبَةِ فِي زَمَانِنَا وَيَقْصِدُونَ السُّكْرَ وَاللَّهْوَ بِشُرْبِهَا).[20] زموږ په زمانه کې فتوا د امام محمد رحمه الله پر قول باندې ده، تر دې چې د دې شیانو: غلې دانو، ګبین، شیدو او اینځرو څخه په جوړ شوي شرابو باندې نیشه شوي کس باندې حد جاري کیږي؛ دا ځکه چې زموږ په زمانه کې فاسقان پدې شرابو راجمعه کیږي او د هغې د څښلو موخه نیشه او ساعت تیري وي.

معاصر حنفي اصل عالم محمد علي الصابوني رحمه الله ویلی: کله چې موږ د دې دواړو ډلو (جمهورو فقهاو او نورو ترمنځ) د هغوی په دلایلو کې فکر او غور وکړ او یو له بله مو سره پرتله (مقارنه) کړل، نو د جمهورو او د حجاز د علماوو مذهب راته راجح ښکاره شو. نو شراب او هر نشه کونکې څیز حرام دی لکه څرنګه چې عمر رضي الله عنه فرمایلي: (وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ – او شراب هغه دي چې عقل ګډوډ او بې سده کړي). او کله چې صحابه و رضي الله عنهم د شرابو د حرام والي حکم واورید پدې پوهه شول چې ټول شراب که له انګورو څخه وي او یا له نورو میوو او غلو دانو څخه جوړ شوي وي حرام دي، پداسې حال کې چې هغو له ټولو خلکو زیات پر عربي ژبه او د شریعت په مراد باندې پوهیدل.

---

[19]. وګوره: الموسوعة الفقهية الكويتية ١٢/٥.

[20]. وګوره: تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق , الزيلعي الحنفي, ٦ / ٤٤ -47

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په سپيځلو سنتو کې هم د هر نيشه کونکي او کمزوري کونکي ځيز حراموالی ثابت دی..کله چې د شرابو د حراموالي حکم راغی نو هغه مهال په مدينه منور کې د خرماو شراب موجود وو او کله چې صحابه کرامو د شرابو د حراموالي حکم واورید شته شراب یې واړول او د هغې لوښي يې مات کړل، د هغه مهال شراب له غُوره (لړو خامو) خرماو څخه جوړ شوي وو. نو لدې امله کومې رايې ته چې جمهور فقهاء تللي دي هغه صحيح او د اعتبار وړ ده او په همدې بنسټ وروستنيو (متاخرينو) احنافو د ټولو شرابو په هکله د محمد بن حسن الشيباني رحمه الله په رايې باندې فتوا ورکړې کوم چې منل شوی حق دی. علامه الوسي رحمه الله ويلي: (( زما په نزد هغه حق چې ګرځيدل ورځخه نه دي مناسب دادی چې له انګورو څخه پرته هر ډول شراب په هر نوم او په هره زمانه کې چې وي کله چې پکې نيشه وي نو حرام دي، د هغې لږ د ډېرو په شان دي، پر څښونکي يې حد جاري کيږي، طلاق يې واقع کيږي او پليتي (نجاست) يې سخت ( غليظه) دی)). [21]

نوشراب همغه دي چې عقل پټوي، ګډ وډ کوي او بې سده کوي يې، پدې باب کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه زيات او مشهور احاديث نقل شوي او د هغه پدې جامعو ويناو کې د دې ځرګندونه شوې چې هر هغه شی چې عقل خوماروي او نشه کوي هغه حرام دی. په احاديثو کې د دغو شيانو د استعمال په ځرنګوالي کې توپير نه دی ذکر شوی، نو دې ته اعتبار نشته چې يو شی د اوبو په څير وڅښل شي هغه حرام دی، بلکې هر هغه څه چې نشه ورکوي که هغه خوړل کيږي لکه افيون او يا يې دود تيريږی لکه چرس، هيروئين. دا او دې ته ورته ځومره نيشه يي توکې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې نه وو په وروسته عصرونو کې رامنځ ته شوي د دين علماوو د شرابو د حراموالي په حکم کې داخل کړي دي. [22]

---

[21]. وګوره: روائع البيان تفسير آيات الأحكام, محمد علي الصابوني ١/ ٢٧٩

[22]. وګوره: (الفقه الاسلامي و ادلته،د. وهبه الزحيلي ٤۴٦/٧, زاد المعاد ابن القيم ٦٦٢/٥، نيل الأوطار الشوکاني ١٦٧/٧، سبل السلام الصنعاني ٢/ ٤۴٧ ، فقه السنة، سيد سابق ٨٨/٢، الفقه على المذاهب الاربعة عبدالرحمن الجزيري ٢٢/٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مخدره توکو حراموالی

د(مخدره) کلمه له (الخَدْرُ)څخه اخستل شوې چې معنی يې کمزوري، تنبلي، سستي ده، په عربي ژبه کې ويل کيږي: **خَدَرت الرِّجْلُ**- پښه کمزورې او سسته شوه) او (خَدَرَ العُضوُ –غړی کمزوری شو) يعنې کله چې د بدن کوم غړی سست شي او حرکت نه شي کولی.[۲۳] نو د لغوي تحقيق او څيړنې له مخې د نوموړې کلمې معنی د نورو ځينې معناو ترڅنګ د کمزورئ (ضَعْف) سستئ (الفُتُور) تنبلئ (الکَسل) باندې څرخي، نو هغه څوک چې کوم مخدر مواد استعمال کړي لدغسې حالت سره مخ کيږي او د هغې په نتيجه کې د بې زړه توب بې غيرتی، حماقت، حيرانتيا او د شک پر خويونو باندې اخته کيږي.[۲۴]
لکه مخکې چې يې يادونه وشوه هغه دلايل چې د شرابو او نيشه ورکونکو شيانو پر حرمت باندې دلالت کوي، د مخدره شيانو پر حرمت باندې هم دلالت کوي؛ ځکه چې د هغې له امله هم په بدن کې بې سدي، عقل پټول، ګډوډ کول او نور اړونده حالات رامنځ ته کيږي. علماء وايي: مخدره او نيشه کونکي توکې بيلابيل ډولونه لري اړونده ماهره خلک يې په بيلابيلو نومونو سره ايجادوي او پدې ټولو کې مشترک خاصيت د عقل پټول، بې سده کول او ګډوډ کول دي او د دې ټولو مشترک حکم حراموالی دی؛ ځکه چې د هغې تاوان او ضرر موکد او باوري دی.[۲۵]

د حديثو په يو روايت کې ذکر شوي: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: ((نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ)).[۲۶] له ام سلمه رضي الله عنها څخه نقل شوي هغې ويلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له هر نشه کونکي او کمزوری کونکي څيز څخه منع کړي ده)). پدې حديث شريف کې چې له (مُسْكِرٍ- نشه کونکي) ترڅنګ د (مُفْتِرٍ) لفظ هم ذکر شوی دی. ابن الاثير رحمه الله د هغې په معنا کې ويلي: المُفْتِر: الَّذِي إِذَا شُرِب أحْمَى الْجَسَدَ وَصَارَ فِيهِ فُتُور، وَهُوَ ضَعْف وانكِسار:[۲۷] مفتر هغه شی دی چې کله وڅښل شي نو بدن ګرم کړي او پکې فتور پيداشي چې هغه کمزوري او شکستګي ده. په القاموس المحيط کې ذکر شوي: په عربي ژبه کې ويل کيږي: **فَتَرَ جِسْمُهُ فُتُوراً: لانَتْ مَفاصِلُهُ، وضَعُفَ:** بدن يې کمزوری شو په کمزورئ سره: يعنې بندونه يې نرم شو او کمزوری شو.[۲۸] او **اِفتار** هغه څه ته وايي چې په بدن کې وروسته له قوته کمزوري پيداکوي، همدارنګه وروسته له حرکته سکون او وروسته له کلکوالي سستوالی، وروسته له تکړه والي تنبلي او کسالت رامنځ ته کوي او دا صفات په هغه چا کې پيداکږي چې کوم مخدر مواد استعمال کړي.[۲۹]
په اوسني عصر کې د فقهې نامتو متخصص دکتور وهبة الزحيلي رحمه الله وايي: له شپږو لومړنيو

---

۲۳. وګوره: لسان العرب، مادة خَدر (٤/ ٢٣٠) او مجلة البحوث الإسلامية، الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء السعودية, ٢٣ / ١٨

۲۴. وګوره: مجلة البحوث الإسلامية، الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء السعودية, جزء ٢٣، ص ١٨

۲۵. وګوره: الفقه الإسلامي و أدلته, وهبة الزحيلي ٧/ 44٤

۲۶. سنن أبي داود رقم الحديث٣٦٨٦ (حسَّن إسناده الحافظ ابن حجر في "الفتح" 10/ 44, ونقل المناوي في "فيض القدير" 6/ 338 عن الحافظ العراقي أنه صحح إسناده).

۲۷. وګوره: النهاية فى غريب الحديث والأثر, ابن الأثير 3/ 408

۲۸. وګوره: القاموس المحيط , فيروز آبادي ٤/ ٤٥٤

۲۹. وګوره: مجلة البحوث الإسلامية، الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء السعودية, جزء ٢٣، ص ١٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

(هجري قمري) پيړيو وروسته ټول نوي راپيدا شوي مخدره شيان داسې حرام دي لکه شراب چې حرام دي؛ د دې لپاره چې عقل بې سده کوي او هغه خرابتياوې او تاوانونه پکې دي کوم چې په شرابو کې دي، بلکې له هغې يې تاوانونه زيات او فساد يې لوی دی؛ ځکه چې د اسلامي امت وګړو او ټولنو ته يې په مادي، روغتيايي او علمي ډګرونو کې ننګونه او ضرر خورا زيات دی او پدې کې هيڅ شک نشته چې اسلامي شريعت د فساد او تاوان شيان حرام ګرځولي او هغه څه يې روا کړي چې واقعي خالص او راجح مصلحت او ګټه پکې وي. او څوک چې دداسې مضرو شيانو په باره کې د کوم مصلحت او يا ګټې ګومان کوي، نو هغه خوشې وهم او دوکه ده. همدا لامل دی چې نړيوال سازمانونه د مخدره توکو پر منعَ او بنديز باندې اجماع او اتفاق لري. د هېوادونو هغه اجماع چې د دې کار پر بنديز باندې قايمه ده پدې کچه پر بل کوم کار باندې نه ده قايمه، چې له هرې ممکنې لارې د مخدره موادو د قاچاق مخنيوي کيږي،نيول شوي توکې تلف کيږي او قاچاقکبران يې پر بند او داسې نورو سزاګانو سره محاکمه کيږي.[30]

د **الفقه على المذاهب الأربعة** مؤلف **عبدالرحمن الجزيري** رحمه الله ذکر کړي: په يقيني توګه چې د دې ټولو نشه کونکو څيزونو استعمال حرام دی او بايد کوم شک کونکی پدې کې شک ونه کړي؛ دا ځکه چې زيات بدني تاوانونه او اړونده ډېرمفاسد رامنځ ته کوي: عقل خرابوي، بدن کمزوری او تباه کوي، نو دا هيڅ امکان نه لري چې شريعت دې داسې يو څه (شراب) حرام کړي چې د هغې تاوان د دې موجوده ځينې مخدره موادو پر نبست کم وي. په همدې بنسټ د حنفي مذهب ځينې علماو ويلي: ((**إن من قَالَ بحَل الحشيش زنديق مبتدع**- بيشکه څوک چې وايي چرس حلال دي هغه په دين کې نوي کارونه راپيدا کونکی زنديق دی)).[31]

د حنفي فقه مشهور کتاب (**ردالمختار**) مؤلف **الحصفکي** رحمه الله[32] ذکر کړي: **((ويحرم أكل البنج والحشيشة.. والأفيون لأنه مفسد للعقل ويصد عن ذكر الله وعن الصلاة.. من قال بحل البنج والحشيشة فهو زنديق مبتدع.. وإنه يكفر ويباح قتله))**[33] د بنګو، چرسو او ترياکو خوړل حرام دي؛ ځکه چې دا شيان د سړي عقل فاسدوي او د الله تعالی له ذکر او لمانځه ګرځونکي دي. او څوک چې بنګ او چرس حلال بولي هغه زنديق او مبتدع دی. (او ځينو عالمانو ويلي) چې په حلال ګڼلو يې کافر ګرځي او مرګ يې روا کيږي.

امام ابن القيم رحمه الله په (زاد المعاد) کې وايي: (( د شرابو په جمله کې هر نشه کونکی څيز داخل دی، که هغه مايع وي او يا جامد، که د خام شربت په شکل کې وي او يا په اور پوخ شوی وي او پدې کې د فاسق او فاجر مړيو هم داخل ده يعنې چرس؛ ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحيح او صريح نص له مخې حرام دي. هغه نص چې د هغې په سند کې کوم خلل او په متن کې يې څه اجمال نشته فرمايي: ((کل مسکر خمر – هر نشه کونکی شی حرام دی)). او صحابه رضي الله عنهم چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم پر خطاب او مراد باندې تر ټولو زيات پوهه وو له هغوی څخه دا وينا ثابته ده چې شراب هغه دي چې عقل بې سده او خومار کړي... اوکه څه هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې لفظ (کل

---

[30]. وګوره: الفقه الاسلامی و ادلته، وهبة الزحيلي،447/7

[31]. وګوره: الفقه على المذاهب الأربعة, الجزيري 5/ 36

[32]. محمد بن علي بن محمد بن علي بن عبد الرحمن الحنفي الحصفکي د وفات کال ۱۰۸۸هجري قمري.

[33]. وګوره: رد المختار ۱/ ۶۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکر) لاندې ځینې مخدره مواد (لکه چرس) رانه شي لکن صحیح او صریح قیاس چې پکې اصل او فرع له هرې وجهې مساوي وي د بیلابیلو نیشه کوونکو پر مساوات او برابرئ باندې حکم کوي.[۳۴]

الصنعاني رحمه الله په سبل السلام کې ویلي: (( بیشکه هغه چې لږ یې نشه ورکوي که څه هم نه ځنبل کیږي حرام دي لکه چرس. او که څوک وایي چې هغه مخدر (کمزوري کونکي دي) نه نشه کوونکي، نودا عناد کول او حقایق نه منل دي. مصنف ( د بلوغ المرام) ابن حجر رحمه الله ویلي: په یقیني توګه چرس هم د شرابو غوندې نشه او مستي ورکوي او که دا دعوه تسلیم کړو چې نشه نه لري، نو پدې کې خو هیڅ شک نشته چې هغه کمزوري کوونکي او سسستونکي دي لکه څرنګه چې د سنن ابي داود په روایت کې ذکر شوي:( **نهی رسول الله عن کل مسکر ومُفْتِر**- رسول الله صلی الله صلي الله علیه وسلم له هر نشه ورکونکي او کمزوري کونکي شي له استعمال څخه منع کړې ده). الخطابي رحمه الله ویلي: **المُفْتِر:** هر هغه ځنبل کیدونکي شیان دي چې په غړو کې سستي،تنبلي او بې سدي رامنځ ته کوي. حافظ عراقي او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله دچرسو په حرمت باندې اجماع رانقل کړې او داچې څوک یې حلال وګڼي نو کافر کیږي.. او ابن البیطار رحمه الله ویلي: د چرسو قبایح او تاوانونه زیات دي چې ځینې علماوو له هغې څخه یوسل او شل دیني او دنیاوي تاوانونه په ګوته کړي دي او دهغې بد خویونه په افیون کې هم شتون لري بلکې په افیون کې له چرسو څخه زیات تاوانونه شته دی)).[۳۵]

که څه هم ځینې علماء لکه شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي چې چرس ځنبونکی به د شرابي غوندې په درو باندې وهل کیږي،[۳۶] لکن ځینې علماء دچرسو او نورو جامدو مخدراتو استعمالونکي لپاره د تعزیر[۳۷] سزا لازم ګڼي دکتور وهبة الزحیلي رحمه الله ویلي دي: (( له مایعو شیانو څخه علاوه جامد شیان لکه بنګ، چرس او افیون چې په استعمال سره یې عقل زایل کیږي،تاوان او ضرر یې ثابت دی، پداسې حال کې چې په اسلام کې ځان ته تاوان او بل ته تاوان رسول نشته دی (**لاضَرر ولاضِرار فی الاسلام**)، خو د دې شیانو په استعمال کې حد نشته؛ ځکه چې د شرابو په کچه مستي او خوشحالي نه راوړي او نه یې په لږو سره ډېرو ته بلنه کیږي، بلکې تعزیر پکې دی؛ د دې لپاره چې دا شیان تاوان لري او د دې حدیث له مخې چې : ((**نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کل مسکر ومفتر**- رسول الله صلی الله علیه وسلم له هر نشه کونکي او له هغه څه منع کوي چې بدن کمزوری کوي او غړي سستوي)).[۳۸]

همدارنګه نوموړی عالم وایي: فقهاء پدې متفق دي چې څوک بې له عذره ( د درملنې له اړتیا څخه پرته) کوم مخدر شی استعمال کړي، د هغې لپاره تعزیر (اړونده لازمه سزا) ده، که هغه یې پر رټلو،

---

[۳۴]. وګوره: زاد المعاد في هدى خير العباد,ابن قيم الجوزية ٦/ ٦٦٢- ٦٦٤

[۳۵]. وګوره: سبل السلام شرح بلوغ المرام, الصنعاني١١/ ٤٨

[۳۶]. وګوره: الفتاوى الكبرى, ابن تيمية ٣/ ٤٣٠

[۳۷]. تعزیر په لغت کې منع کیدونکي شي ته ویل کیږي او په اصطلاحې مفهوم کې هغه نا ټاکلې سزا ته ویل کیږي چې قاضي یا حاکم یې د مجرم د جنایت او حالاتو سره برابر هغه ته ورکوي لکه د وهلو او یا خبرو له لارې تادیب، بندي کول، مالي تاوان اخستل او داسې نور. وګوره: **الفقه الاسلامی و ادلته، وهبة الزحیلي، ۷/ ۵۱۴- ۵۱۵**

[۳۸]. وګوره الفقه الإسلامي و أدلته, وهبة الزحيلي ٧/ ٤٣٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهلو، بندي کولو، د خلکو پر وړاندې اعلانولو، مالي غرامت او داسې نورو سره وي، هره کومه سزا چې قاضي او یا حاکم یې ورته تجویز کوي؛ د دې لپاره چې نور خلک ورڅخه عبرت واخلي او څوک هم د جرم او ناروا شیانو په کولو سره جرات ونه کړي.

حنفي او مالکي فقهاوو دا روا ګڼلې چې دغسې تعزیر کیدای شي وژنه هم وي، چې هغې ته سیاسي وژنه ویل کیږي، کله چې حاکم پکې مصلحت وګوري او د جرم نوعیت د وژنې موجب وي، لکه داچې یو څوک په تکرار سره د نشه یي یا مخدره موادو کار ترسره کوي (او خپل عادت یې ګرځولی وي) یا داچې د هغې له امله په جرمونو کې اخته وي، یا د لواطت او یا قتل په کارونو کې ملوث وي.. نو په دغسې حالاتو کې د روږدي کس وژنه د ځینې معاصرو هغو مفتیانو لپاره دلیل دی کومو چې د داسې یو قانون مشروع ګرځولو وړاندیز کړی چې د هغې پر بنسټ د مخدره موادو استعمالونکي او یا معامله کوونکي په دار ځړولو سره اعدام شي، چې په دغسې کړنلاره کې به د مخدره موادو سوداګرو، قاچاق کبرو او د هغې استعمالونکو لپاره پوره عبرت او درس اختسنه وي.[39]

د سګرت څکونې په اړه وهبة الزحیلي رحمه الله ویلي: ځینې علماء سګرت څکول هم حرام قطعي بولي؛ځکه چې له خبائثو (چټلو شیانو څخه دي..) او د دې لپاره چې د څکونکي بدن ته بیلابیل صحي تاوانونه رسوي، د کورنۍ د فقر لامل ګرځي او په مال کې د اسراف کولو وعید وړاندې مرتب کیږي، لکن واقعیت دادی چې د سګرټ څکولو مرتبه له کراهیت او یا له تحریمي کراهیت څخه کمه نه ده، خو په هغه صورت کې قطعي حرام دي چې کله د څکونکي ځان او یا مال ته ضرر او تاوان رسوي، یا داچې د ځان او یا د عیال د خوړو (روزۍ) لپاره مال ته اړتیا لري (هغه مال چې دی پرې سګرټ پیري) او یا داچې د ځان او یا د ماندینې او عیال جامو ته یې اړتیا وي.[40]

نن‌ۍ زمانه چې پکې د قیامت له وړو علامو څخه بیلابیله علامې او فتنې رابرسیره شوي، له هغې څخه یې یوه هم د نیشه یې او مخدره موادو په استعمال او کارو بار کې د مسلمانانو بې پرواهي, د شرابو او مخدره توکو بیلابیلو ډولونو ته غیر اصلي نومونه ورکول او هغه حرام نه ګڼل دي لکه څرنګه چې په یو حدیث شریف کې ذکر شوي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (( **لیشربن أناسٌ من أمتي الخمر یُسمُّونها بغیر اسمها**)).[41] خامخا (په وروستنیو زمانو کې) زما له امت څخه ځینې خلک شراب څښي چې له هغې څخه پرته په نورو نومو به یې یادوي.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (( **لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ يَأْتِيهِمْ يَعْنِي الْفَقِيرَ لِحَاجَةٍ فَيَقُولُونَ ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا فَيُبَيِّتُهُمْ اللَّهُ وَيَضَعُ الْعَلَمَ وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ**)).[42] زما په امت کې به داسې قومونه وي ( په وروسته زمانو کې) چې زنا به حلاله ګڼي، د وریښمو جامې به سړیو ته روا کوي، شراب او د ټنګ ټکور

---

[39]. وګوره: الفقه الإسلامي وأدلته, وهبة الزحیلي ۷/ ٤٥٠-٤٥١

[40]. وګوره: الفقه الاسلامي وادلته، وهبة الزحیلي ۷/ ٤٣٨-٤٤٠

[41]. مسند احمد

42. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

آلات به روا بولي. لدوی څخه به داسي خلك هم وي چې د يو اوچته غره په اړخ کې به ميشت شي، د بيګا په وخت کې به دوی ته خپله (د ګډو بزو) هغه رمه ورګرځي چې د سبا په وخت کې (د شپونکي په واسطه) څر ته وتلې وي. دغه مهال به يو فقير سړی ورته د سوال او اړتيا پوره کولو لپاره راشي، نو دوی به ورته وواييي مونږ ته سبا راشه! خو الله تعالی به يې پر همغه شپه کې تباه کړي (سبا ته به پاتې نه شي) او هغه غر (او وداني) به هم پرې راوغورځوي. او نور ددغسې عملونو والا خلک به تر ورځ د قيامته پورې بيزوګان او سرکوزي وګرځي.[٤٣]

نو بايد چې يو مسلمان له هر ډول نشې او د هر هغه څيز له استعمال څخه په کلکه ډډه وکړي چې د عقل د خوماريدو، بدن او غړو د کمزورۍ، سستۍ او تنبلۍ لامل ګرځي، څښونکی او استعمالونکی يې په وهم، خيال او اپلتيو ويناو کې .. اخته کيږي. او په حقيقت دغسې صفات پيداکوونکي شيان که په هر شکل او هر نوم سره وي په شريعت کې دا ټول حرام دي - لکه څرنګه چې يې مخکې دلايل ذکر شول- او لکه څرنګه چې شرابو ته په احاديثو کې (أُمُّ الْخَبَائِثِ - د چټليو او ګناهونو مور او سرچينه ويل شوي ده) نو له هغې نه علاوه هغې ته ورته نشه يې شيان هم د ګناهونو زيږندويه او شيطاني اعمال دي چې څښونکی او استعمالونکی يې د شرابو د حراموالي په حکم او د هغې تر وعيد او سزا لاندې راځي، الله تعالی فرمايي:((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ() إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ().[٤٤] - ای مومنانو بيشکه چې شراب او قمار او بتان او غشي (د فال) دا ټول د شيطان پليت کارونه دي، نو ځان ورڅخه وساتئ د دې لپاره چې کامياب شئ. يقيا چې شيطان غواړې په شرابو او قمار سره ستاسې ترمنځ دښمني او کينه واچوي او د الله تعالی له ذکر او لمانځه نه مو واړوي، نو ايا تاسې به لدې څخه منع شئ؟)).

له جابر رضي الله عنه نه روايت دی چې يو سړي له پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه: ايا هغه شراب چې زموږ په سيمه کې له جوارو جوړيږي او خلک يې څښي ايا هغې ته دا ويل کيږي چې نشه ورکونکي او حرام دي ؟ هغه وفرمايل: هو، هر نشه کونکی څيز حرام دی او د الله تعالی دا وعده ده چې ځوک نشه کونکی څيز وڅښي نو په دوزخ کې به د (الْخَبَال) له ختې څښاک ورکوي،صحابه و وويل:ای د الله پيغمبره! د (الْخَبَال) خټه څه شی دی؟ هغه وفرمايل: د دوزخيانو خَولې او يا د هغوی ويني او زوې دي.[٤٥] او په بل روايت کې راغلي چې:(( كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ, إِنَّ عَلَى اللَّهِ عَهْدًا لِمَنْ شَرِبَ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الخبال يوم القيامة)).[٤٦] هر نشه کونکی شی حرام دی او د الله تعالی دا وعده ده ځوک چې نشه کونکی څيز وڅښي د قيامت په ورځ به د (الْخَبَال) له ختې څخه ور وڅښي.

---

[٤٣]. حافظ ابن حجز رحمه الله ذکر کړي: بيزوګانو اوخنزيرانو ته ددې خلکو اوختل ( او مسخه کيدل ) به يا حقيقي ويا او يا داچې دا کنايه ده د هغوي د اخلاقو له تغير او بدلون څخه.وګورئ: فتح الباري ۱۰\۵۱

[٤٤]. المائدة ۹۰- ۹۱

[٤٥]. مسلم

[٤٦]. صحيح ابن حبان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بنګو او کوکنارو د کرهنې حراموالی

۱ - رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي: «**مَنْ حَبَسَ الْعِنَبَ أَيَّامَ الْقِطَافِ حَتَّى يَبِيعَهُ مِنْ يَهُودِيٍّ أَوْ نَصْرَانِيٍّ، أَوْ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْرًا، فَقَدْ تَقَحَّمَ النَّارَ عَلَى بَصِيرَةٍ**».[۴۷] څوک چې د انګور کټایي په ورځو کې هغه وساتي د دې لپاره چې (وروسته يې) پر کوم یهودي او یا نصراني باندې وپلوري (خرڅ کړي) او یا پر هغه چا چې شراب ورڅخه جوړوي، نو بیشکه چې په لیدلو کتلو (بصیرت) سره يې ځان اور ته وغورزاوه.

په یو بل روایت کې چې ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب شوی هغه وایي: «**مَنْ حَبَسَ اَلْعِنَبَ أَيَّامَ اَلْقِطَافِ, حَتَّى يَبِيعَهُ مِمَّنْ يَتَّخِذُهُ خَمْراً, فَقَدْ تَقَحَّمَ اَلنَّارَ**» څوک چې انګور د هغې د حاصل او فصل اخستنې په ورځو کې وساتي (او وروسته کړي) څو يې پر هغه چا وپلوري چې شراب ورڅخه جوړوي، نو اور ته يې ځان وغورزاوه.

د کتور وهبة الزحیلي صاحب ویلي: د بنګو بوټي، القات[۴۸] او هر هغه څه چې د افیون، هیروین، کوکاین او داسې نورو مخدره موادو شیره او پوډر ورڅخه راویستل کیږي دا ذکر شوی حدیث يې د کرهنې پر حرمت باندې صریح دلیل دی.[۴۹]

ځینې علماوو ویلي پر هغه چا انګور خرڅول چې شراب ورڅخه جوړوي دا ذکر شوي روایتونه د دې کار په حرمت باندې ښکاره دلایل دي؛ نولدې امله دا یو سخت و عید دی او که څوک قصدا (سره د پوهې) دا کار کوي، نو په اجماع سره يې حرام کار وکړ او که سره له قصد او پوهې نه وي، بلکې شک پکې وي، نو کراهیت لري؛ دا ځکه چې پدې سره د ګناه په کار کې مرسته کول دي لکه څرنګه چې د ټنګ ټکور سامان خرڅول او اخستل هم حرام دي، همدارنګه پر کافرانو او بغاوت کوونکو باندې اسلحې او د سپرلي ښاروي خرڅول هم حرام دي کله چې يې د مسلمانانو پر ضد استعمالوي.[۵۰]

انګور چې یوه مهمه مېوه او نعمت دی پر هغه چا يې پلورل حرام دي چې شراب ورڅخه جوړوي، یا د دې بوټې د میوې کټایي د دې لپاره وروسته کول چې د شرابو لپاره اخستونکي يې راشي داسې کار حرام دی،نو چرس او کوکنار کرل به ولې نه وي حرام پداسې حال کې چې اصلا يې کرل د اړونده نشه يې توکو جوړولو په خاطر دي او دا خو معلومه خبره ده چې د افیون د نرخ زیات والی لدې امله دی چې هیروین ورڅخه جوړیږي.

۲ – د بنګو بوټي او کوکنار ددې غرض لپاره کرل چې د هغې مخدر مواد ( چرس او افیون) راوویستل شي او خلک يې واخلي او سوداګري پرې وشي، دا پر ګناه باندې رضایت دی او پر ګناه باندې رضایت ګناه ده؛ ځکه چې د یو ناروا کار په زړه کې بد ګڼل او له هغې سره بغض کول په هر حال کې پر مسلمان باندې فرض دي: لکه څرنګه چې په حدیث کې راغلي چې یو څوک بد کار په زړه کې هم بد ونه ګڼي،نو د

---

۴۷. المعجم الاوسط ۵/ ۲۹۴

۴۸. دا یو بوټی دی چې په حبشه او یمن کې کرل کیږي او د نشې په موخه ژول کیږي.

۴۹. وګوره: الفقه الاسلامي وادلته، وهبة الزحیلي ۷/ 449

۵۰. وګوره: سبل السلام، 4/ 139

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په زړه کې د ورې ( يا سپينلي) دانې په اندازه ايمان نه پاتې کيږي.[51]
۳ – د کوکنارو او چرسو په کرهڼه سره د مسلمان امير د امر مخالفت هم دی؛ دا ځکه چې په اسلامي هېواد او ټولنه کې مسلمانان پدې مکلف دي چې د حاکم او رهبري مقام لخوا د هغه قانون او دستور پيروي وکړي چې د الله تعالی اود هغه د رسول صلی الله عليه وسلم او د مسلمانانو داجماع مخالفت پکې نه وي، نو پدغسې قانون پلې کولو او عملي کولو کې د حاکم پيروي لازم او فرض ده.[52]

## د مخدره توکو د سوداګرۍ حراموالی

لکه څرنګه چې د نشه يي او مخدره توکو استعمال او د هغې د بوټو او فصل کرل حرام دي، همدارنګه يې سوداګري او ګټه هم حرامه ده:
۱ – الله تعالی فرمايي:((وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ[53] – او تاسې په خپلو کې يو د بل مال په ناحقه مه خورئ!)). يعني دا چې نه دي اخلی او نه دي بدلوي ځيني له تاسې د بل چا مال په باطل سره.
د دې وضاحت داسې دی: که يو مسلمان له بل څخه مال لاس ته راوړي، نو په معاوضه کې به حلال مال ورکوي، همدارنګه يو څوک چې پر بل انسان باندې يو شی پلوري هغه به جايز او روا وي. پداسې حال کې چې د نيشه يي او مخدره موادو د پير او پلور په معامله کې د يوه لوري معاوضه (نيشه يي او مخدره توکی ) حرام جنس دی.
۲ –رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ((( **لَعَنَ اللهً اليَهُودَ، حُرِّمَتْ عليهم الشحومُ فباعوها وأكلوا أثمانَها، وإن الله عز وجل إذا حَّرم أكلَ شيءٍ حَرَّم ثمنَه)).**[54] الله تعال پر يهودو باندې لعنت کړی دی؛ ځکه چې پرهغوی وازدې حرامې وې، نو هغه يې خرڅولې او د هغې پيسې به يې خوړلې. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (( **إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى إِذَا حَرَّمَ شَيْئًا حَرَّمَ ثَمَنَهُ**)).[55] بيشکه الله تعالی چې کله يو شی حرام کړی دی، نو دهغې پيسې يې هم حرامې کړي دي.
۳- د مخدره موادو معامله د ظلم، شکوني، غلا او داسې نورو په څير ده؛ ځکه پدې کې انسان ته ضرر رسيږي، بلکې دواړه لوري (اخستونکی او خرڅونکی) متضرر کيږي، او پدغسې معاملاتو کې پرته له تير ايستنې او دوکې ورکولو بل څه نه وي.
۴ – د مخدره موادو ګټه له حرامې لارې لاس ته راوړل کيږي لکه جواري اوقمار او يا لکه د حرامو معاملاتو په څير لکه سود او شراب (چې حکم يې روښانه دی اومخدره موادو ته يې هم حکم شامل دی) او لدغسې معاملاتو لاس ته راوړل شوې پيسې د غلاء له لارې لاس ته راوړل شوي مال په څير دي، برابره ده چې د خاوند له پلوه يې د نفس خوښې وي او يا نه وي.

---

[51]. مسلم
[52]. وګوره: الفقه على المذاهب الأربعة, الجزيري ۵/۴۰
[53]. البقرة ۱۸۸
[54]. مسند احمد
[55]. سنن الدار قطني، مصنف ابن ابي شيبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ - جمهورو فقهاو ویلي: کله چې انګور پر هغه چا پلورل چې شراب ورڅخه جوړوي او پدغسې حالت کې یې پیسې حرامې ګرځي، که یو مسلمان پر داسې چا باندې اسلحه پلوري چې مسلمان پرې وژني، د دې ډول بیې پیسې حرامې دي، همدارنګه د وریښمو جامې چې کله پر کوم نارینه پلورل کیږي د دې لپاره چې هغه یې اغوندي، د دې بیې پیسې هم حرامې دي. نو د دې معاملاتو په څیر د مخدره موادو خرڅول چې اصلي موښه او هدف یې نشه او د الله تعالی په نافرمانۍ کې اختل کیدل دي په طریق اولی د هغې د سوداګرئ له لارې راوړل شوې پیسې حرامې دي. بلکې مخدره مواد په خپل ذات کې حرام شی دی، نو د دې د ګټې حرمت د نوموړو حلالو شیانو (لکه انګور، اسلحه) له حرمت څخه زیات دی.[56]

وهبه الزحیلي رحمه الله ویلي: «د مخدره موادو پیر پلور، قاچاق کول او د هغې لپاره بازار موندل دا ټول حرام دي؛ ځکه چې په اسلامې شریعت کې وسائل د مقاصدو حکم اخلي او هغه څه چې د حرامو لپاره وسیله وي د هغې مخنیوی فرض دی، پدې معامله کې چې کله سوداګر د نیشه یې او مخدره موادو د خپرولو، رایجولو او استعمالولو لارې چارې خلکو ته آسانوي، نو پیسې او ګټه یې حرامه ده..».[57]

## حرامخوري او د آخرت سزا

لکه چې مخکې یې یادونه وشوه د نشه یې لپاره په دوزخ کې د الخبال ختې څخه خوراک ورکول دي. دا د هغه چا سزا شوه چې نشه یې او یا مخدره مواد استعمالوي او هغه خلک چې د مال لاس ته راوړلو په خاطر یې کرهنه، سوداګري، او یا نور کاروبار کوي – د شرعي دلایلو په رڼا کې - د هغوی اخروي سزا داده چې په دوزخ کې به یې غوښې سوځي، رسول الله صلی الله علیه فرمایلي: «وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ , فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ».[58] او د چا چې غوښه پر حرامو راغټه شي،نو د دوزخ زیات وړ دی (چې پکې داخل شي).

ددغه سخت وعید په وړاندې به هغه خلک څه کوي د چا غوښه چې له سود،جوارئ او مخدره موادو د ګټې وټې له پیسو څخه رالویه شوې وي؟

یو عقلمند مسلمان به هیڅکله پداسې کار باید همیشوالی ونه کړي چې کله یې له بدې پایلې او بد انجام څخه خبر شي، بلکې دې ته به ترجیح ورکړي چې هغه کار پریږدي که څه هم – ظاهرا - د هغې پریښودل ورته ستونزمن ښکاري. د مسلمان له شان سره دا نه ښایږي چې د بل چا په تباهۍ او بربادۍ کې د خپل ځان هوساینه ګوري. په باوري توګه که یو څوک د بل چا تباهي غواړي، نو دهغه تباهي او بربادي حتمي ده. او یو څوک چې د نورو په کړاو کې خپل مړښت غواړي، نو پوهه دې شي چې هیڅکله به موړ نه شي.

ایا د اسلامي امت بچیانو ته په خپلو اسلافو کې بیلګه او قدوه نشته، هغه اسلاف چې د نفس پاکۍ، ایثار او قربانۍ او نورو غوره خویونو په هر میدان کې مخکښان وو؟ هغو چې کله یې د شرابو د حراموالي حکم واورید، نو سمدستي یې هغه چپه کړل او د هغې لوښې یې ما ت کړل...

---

[56]. وګوره: الفقه على المذاهب الأربعة, الجزيري 5/ ٣٩-٤٠

[57]. وګوره: الفقه الاسلامی و ادلته، وهبة الزحيلي،٧/٤٤٧

[58]. المعجم الاوسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايا د نني عصر ميرمنو او زنانو ته زموږ د اسلافو پر هغو ښيبيانو او زنانو کې ښه بيلګه نشته چې کله به يې سهار مهال د کار وکسب لپاره د کورنۍ سړي (مېړونه او اولادونه..) له کوره وتل، نو داسې توصيه به يې ورته کوله: (( **اتقوا الله فينا لا تطعمونا الحرام، فإنا نصبر على الجوع، ولا نصبر على الحرام- وفي لفظ - فإنا نصبر على الجوع ولا نصبر على النار**)).[٥٩] زمونږ په باره کې له الله څخه وويرېږئ! مونږ ته حرام مه راوړئ، ښيشکه چې مونږ پر لوږه باندې صبر کولای شو، خو پر حرامو باندې صبر نشو کولای. او يا به يې داسې ويل: مونږ پر لوږه باندې صبر کولای شو، لکن په اور باندې صبر نشو کولای.

بايد چې يو مسلمان پدې وعيد باندې کلک باور ولري چې د حرام مال خوړل که هغه د هرې لارې څخه وي(لکه سود، جواري، غصب، خيانت، د نشته يې او مخدره توکو معاملات) د دې ټولو انجام دوزخ ته تلل دي او هغه غوښه چې په حرامو رالويه شي په اور به سوځي، نو په کار ده چې يو مسلمان په خپل کارو کسب کې تجديد نظر وکړي، په حلالو ګټلو کې ځان بوخت کړي او که حرام يې خوړلي وي په حقه ورڅخه توبه وباسي، څو يې په ژوند کې برکت او خوشحالي راشي او د آخرت له سزا څخه بچ شي.

## له حرامو صدقه نه قبليدل

په قرآن او حديث کې دا د لمر په څير روښانه ده چې کله له يو حرام شي څخه پيسې لاس ته راوړل شي، نو له هغې څخه صدقه او خيرات هم نه قبليږي او نه د الله تعالى ته د قربت په لارو کې منل کيږي، لکه مسجد جوړونه، حج کول او داسې نور، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (( **يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} [المؤمنون: ٥١] وَقَالَ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ١٧٢] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَكْسَبُهُ حَرَامٌ، وَغُذِّيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ**)).[٦٠] اى خلکو الله پاک دى او نه قبلوي مګر پاک شى او بيشکه چې الله تعالى مومنانو ته پر هغه څه امر کړى چې پيغمبرانو ته يې امر کړى دى (چې اى پيغمبرانو له پاکو شيانو خوراک کوئ او نيک کارونه کوئ، بيشکه زه پر هغه څه ښه پوه يم چې تاسې يې کوئ).[٦١] او الله تعالى فرمايلي دى: ((اى مومنانو خوراک کوئ له هغو پاکو شيانو چې ما د هغې روزې درکړې ده.[٦٢] بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو سړي يادونه وکړه چې اوږد سفر به وکړي، ببرسر او ګرد جن به شي، لاسونه به آسمان طرف ته پورته کړي وايي به چې: اى ربه! اى ربه! پداسې حال کې چې خوراک به يې حرام وي،څښاک به يې حرام وي،ګټه به يې حرامه وي او په حرامو به لوى شوى وي، نو څرنګه به يې سوال قبول شي)).

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (( **وَلَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالًا مِنْ حَرَامٍ، فَيُنْفِقَ مِنْهُ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيهِ، وَلَا يَتَصَدَّقُ بِهِ فَيُقْبَلَ مِنْهُ، وَلَا يَتْرُكُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ، إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ، وَلَكِنْ**

---

٥٩. وګوره: **تعليق اشيخ عبد الفتاح ابوغدة على: رسالة المسترشيدين للامام الحارث المحاسبي، ص ١٥٣**

[٦٠]. مسند احمد

[٦١]. المؤمنون ٥١

[٦٢]. البقرة ١٧٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ، إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ**)).[٦٣] يو بنده چې کوم مال په حرامو سره لاس ته راوړي او بيا ورڅخه نفقه کوي، نو په هغې کې هيڅ برکت نشته او نه يې ورڅخه صدقه منل کيږي او که له ځانه وروسته يې پريږدي، نو دوزخ ته به يې توښه وي. بيشکه الله عزوجل بدي پر بدۍ لمنځه نه وړي، لکن بدي په نيکۍ سره لمنځه وړي او بيشکه چټل شي په چټل باندې نه محوه کيږي.

په يو حديث شريف کې راغلي ابوهريرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (کله چې يو سړی د پاکيزه توښې سره له کوره د حج په نيت را ووځي د سورلۍ په رکاب کې پښه کيږدي او داسې ووايي: (( **لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ** - زه حاضريم، ای الله زه ستا د عبادت لپاره تل او بيا بيا حاضر يم))، نو له اسمان څخه ورته يو او از کونکی ( ملک) آواز وکړي: (( **لبيك وسعديك، زادك حلال، وراحلتك حلال, وحجك مبرور غير مأزور**- ستا د عمل منلو ته حاضر يو او ته هميش نېکبخته اوسه! ستا توښه حلاله ده، سورلۍ دې حلاله ده، حج دې مقبول او بې نقصانه دی)). او کله چې يو سړی له ناپاکې توښې او حرام مال سره د حج په اراده راووځي د سورلۍ په رکاب کې پښه کيږدي او دا آواز وکړي: (( **لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ**- ستا بلنې ته په ځواب ورکولو ای الله! زه ستا د عبادت لپاره تل او بيا بيا حاضر يم))، نو له آسمان څخه ورته آواز کوونکی ( ملايک) آواز وکړي:(( **لالبيك ولاسعديك, زادك حرام, ونفقتك حرام, وحجك غير مبرور**- ستا دغه ځواب او حاضريدل نشته او نه ته نيکبخته يې. ستا توښه حرامه ده، ستا د لګښت مال حرام دی او حج دې مقبول نه دی)).[٦٤]

بايد چې د کوکنارو او چرسو کرونده ګر،د هغې توليدونکي او سوداګر او د د هر زاز نشته يې توکو کارمندان او سوداګر دې حقيقت ته پاملرنه وکړي، لدغسې ناروا کارونه څخه ډډه وکړي چې مال يې پرې حراميږي،عملونه يې برباد ګرځي، صدقې او خيراتونه يې نه قبليږي، او د دوزخ له اور سره مخ کيږي.

---

٦٣. مسند احمد
٦٤. المعجم الكبى,والمعجم الاسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نشه يي او مخدره توکو هر اړخيز تاوانونه

قرآن کريم چې الله تعالی د بشريت د لارښونې، ژرغونې او کاميابۍ لپاره راليږلی دی، د هغې په ښوونو او تعليماتو کې يو هم د شرابو او نورو مضرو شيانو څخه ځان ساتنه ده. شراب د نشه يي او مخدره توکو په سر کې راځي او د هرې ګناه جرړه او اصل بلل کيږي، د هغې د حراموالي او خباثت په اړه الله تعالی فرمايي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ() إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ().[٦٥]- ای مومنانو بيشکه چې شراب او قمار او بتان او غشي (د فال) دا ټول د شيطان پليت کارونه دي، نو ځان ورڅخه وساتئ د دې لپاره چې کامياب شئ. يقيا چې شيطان غواړي په شرابو او قمار سره ستاسې ترمنځ دښمني او کينه واچوي او د الله تعالی له ذکر او لمانځه نه مو واړوي، نو ايا تاسې به لدې څخه منع شئ؟)).

دا څرنګنده او هر چاته معلومه ده چې نشه يي او مخدره مواد بې شمېره تاوانونه او اغيزې لري او هغه څوک چې پدې مصيبت او بلا اخته شي، نو په حقيقت کې د يو داسې حرام کار مر تکب وګرځي چې په شريعت کې حرام او ناروا دی او له امله يې د الله تعالی له ذکر، لمانځه او نورو فرايضو او وجايبو څخه اړول کيږي، همدارنګه کله ناکله د لويو حرامو مرتکب ګرځي لکه ځان وژنه، بل وژنه، غلا او داسې نور.

يو نشه يي شخص په ټولنه کې پر خلکو باندې بوج ګرځي، خپلې کورنۍ ته غم او پريشاني راوړي، په چاپيريال کې د تخريبي کارونو مرتکب کيږي، خاصو او عامو ملکيتونو لره اذيت رسونکی او تباه کوونکی جوړيږي.. همدارنګه په اقتصادي ډګر کې ځان، کورنۍ او ټولنې تاوان رسوي.

**ټولنيزې او اقتصادې اغيزې:**

١. د نشه يي او مخدره توکو روږدي چې د خپل هوس مړولو په خاطر کوم مال لګوي لومړی يې د خپلې کورنۍ اقتصاد خرابوي، چې کله ناکله داسې کورنۍ پور اخستنې ته اړ کيږي او د فقر او بې چارګۍ په پر مصيبت باندې اخته کيږي. او دويم د ټولنې داقتصاد په پرمختګ کې خنډ واقع کيږي..

٢. روږدي کسان داسې کارونه ترسره کوي چې د ټولنې له ارزښتونو سره منافات لري، د مثال په توګه: د غلا او دوکې په کارونو کې اخته کيدل، د شرم او بې حيايي په کارونو او د ټولنې د آدابو خلاف کارونو کې مشغوليدل.

٣. له ټولنيز اړخه هغه کورنۍ چې پکې پلار يا مور په نشه يي يا مخدره توکو باندې روږدي وي دغه بد عادت د هغوی اولاد او راروان نسل ته سرايت کوي. او د دغسې کورنۍ ماشومان له نيکې بيلګې او ښه نمونه مشرانو څخه بې برخې کيږي.

---

[٦٥]. المائدة ٩٠- ٩١

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. یو شمېر څېړنو دا ثابته کړې چې په کومې کورنۍ کې پلار یا مور معتاد وي په هغې کې د طلاق واقع کېدل زیات وي، همداراز په کورنۍ کې دښمني، ستونزي او بېلابېلې بدې پېښې را ولاړېږي.

۵. د مخدره موادو کارو بار او خرېدل په ټولنه کې د ځینې ټولنیزې بنسټېزو آفتونو او ناروغیو لامل دی لکه: رشوت، غلا، خیانت، بې حیایي او داسې نور.[٦٦]

۶. د اسلام دښمنان چرس او نور مخدره مواد د مسلمانانو ځوانانو ترمنځ رایج کوي، تر څو د هغوی ځواني، سړیتوب او زوړتیا ختمه شي، عقلونه یې کمزوري شي او بالآخره اسلامي امت د تخلف او وروسته پاتې کېدو په کنده کې د همیش لپاره پاتې شي، بهرني او یرغلګر ځواکونه پرې غالبه شي.[٦٧]

## روغتیایي اغېزې:

دا یو حقیقت او واقعیت دی چې د نیشه یې او مخدرو توکو ټول انواع ې بېلابېل صحي تاوانونه لري، د عقل د بې سده کېدو، د بدن د کمزوري کېدو، دغړو سستېدو او داسې نورو لامل ګرځي چې په لاندې نکاتو کې د نوموړو توکو اړونده مهمو ډولونو بېلابېل روغتیایي تاوانونه ذکر شوي دي:

### ۱– شراب او الکول:

د شرابو او الکولي موادو سمدستي اغېزې او تاوانونه پدې توګه دي:

۱. په ذهني تمرکز کې کمښت، بې هوشي، له یاده وتل او د حافظې کمزورې کېدل، حرکي ستونزې، د دماغي فعالیتونو کمښت او خفګان.

۲. یوه سلنه الکول ددې باعث کېږي چې د انسان زړه په یوه دقیقه ک ( ۱۰ضربانه ) ته لوړ شي. د الکولو څښاک په تداوم سره د شریانونو بندښت په ځانګړې ډول د اکلیلي شریان بندښت رامنځته کوي کوم چې زړه ته د غذا رسولو دنده پر غاړه لري چې په پایله کې د زړه د سکتې سبب کېږي.

۳. اوسنیو څېړنو ثابته کړې ده چې د انسان ماغزه له مختلفو مرکزونو څخه جوړشوي دي، د ماغزو پورتني مرکزونه دنده لري ترڅو اراده، په ځان باور او ټولنیز سلوک کنټرول کړي او د ماغزو لاندیني مرکزونه عقلي او فکري دندې ترسره کوي. خو د الکولو د استعمال له امله د اعصابو د سیستم مختلف مرکزونه اغېزمن کېږي.

۴. الکول وینه تخریبوي، د شرابي شخص بدن ته په کافي اندازه اکسیجن نه رسېږي او د سروکرویاتو د اختناق سبب کېږي چې په نتیجه کې یې د عضلاتو خستګې رامنځته کېږي. همدرانګه د بدن مقاومت یې د میکروبونو او ناروغیو پر وړاندې کمېږي.

---

[٦٦]. وګوره: مستشفى الأمل www.hopeeg.com

[٦٧]. وګوره: الفقه على المذاهب الأربعة ۵/ ۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. که هر کله د شرابو او الکولي موادو استعمال ته ادامه ورکړل شي ،نو د ينې حجرې به خپل ژوند يو پر بلې پسې له لاسه ورکړي چې د ينې د يوې برخې د خرابيدو سبب کيږي او د ينې (جيگر) هغه برخه چې حجرو يې خپل ژوند له لاسه ورکړی وي د اسفنج شکل ځانته غوره کوي او ددې حالت پرمختګ د ينې د ناروغيو سبب کيږي چې دغه ناروغی په پای کې د يو ناڅاپي مړينو سبب کيږي.

۶. پر اشتها باندې د الکولو اغيزې،پر بولي سيستم او پښتورگو باندې د الکولو اغيزې او داسې نورې تباه کوونکې اغيزې لري.[۶۸]

په بي بي سي ويبپاڼې[۶۹] کې د يوه تازه راپور له مخې د دې يادونه شوې چې شراب که لږ وي يا ډېر، خو روغتيا ګواښي. د نړيوالې څېړنې پايلې ښيي، شراب يا الکول که څومره کمه اندازه وکارول شي، بيا هم روغتيا ته تاوان لري او غوره سپارښتنه دا ده چې په بشپړ ډول له شراب څښلو ډډه وشي.دا څېړنه په لنسټ مجله کې خپره شوې چې د نړۍ په ۱۹۵ هېوادونو کې له ۱۵ کلنۍ تر ۹۵ کلنۍ عمر لرونکي کسان پکې پوښتل شوي دي.

يادې څېړنې کابو ۲۶ کاله وخت نيولی چې په ۱۹۹۰ کال پيل شوې وه او په ۲۰۱۶ کال کې پای ته ورسېده.څېړونکو په دغه څېړنه کې هغه کسان چې اصلا شراب نه څښي، له هغو کسانو سره پرتله کړي چې لږ تر لږه د ورځې يو ځل شراب څښي.

څېړنه دې پايلې ته هم رسېدلې چې شراب په ټولو عمرونه کې د بې روزګارۍ او مړينې او م وژونکی عامل دی. د دې څېړنې له مخې، (۲،۲) سلنه د ښځو مړينه او ۶،۸ سلنه د نارينه وو مړينه د شراب کارونې له امله ده، خو څېړنه وايي، له ۱۵ کلنۍ تر ۴۹ کلنۍ شراب د وژنې له مهمو لاملونه دی چې کولی شي د (۳،۸) سلنه ښځو او (۱۲،۲) سلنه نارينه وو د مړينې لامل شي.

دغې څېړنې شراب څښل په نړيواله کچه خطر پېښوونکی عامل ياد کړی او وايي، د الکولو "هره اندازه" کارونه روغتيا ته زيان رسوونکې ده. څېړنې موندلې چې د کمې اندازې شراب څښل ښايي زړه ته لږ ګټه ولري، خو په ټوله کې يې د زيان اندازه تر ګټې ډېره ده، ځکه د سرطان او نورې ناروغيو لامل کېدای شي.د واشنګټن پوهنتون استاد ډاکټر "مکس ګريزويلډ"چې د دغې څېړنې مشري کوي، وايي":پخوانيو څېړنو موندلې وه چې شراب د يو شمېر ناروغيو مخه نيسي، خو موږ دې پايلې ته ورسېدو چې شراب که هر څومره کم هم وکارول شي، روغتيا ته تاوان لري".

---

[۶۸]. وګوره: روغتيا مجله، پنځه ۲۵ ګڼه، ۱۳۹۳هـ ش، ص ۱۰- ۱۱ ، صحت عامه

[۶۹]. ۱۳۹۷ لمريز د وږي په ۳ مه، (25 اګست 2018 )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲–افیون( Opium):**

افیون یا تاریاک چې د کوکنارو له بوټي څخه په لاس راځي.د خولې او په موضعي ډول د مخاطي غشا له لارې استعمالیږي. همدرانګه لدې مادې څخه هیروئین جوړیږي چې په زرقي، انشاقي او تحت الجلدي لارو استعمالیږي. د هیروینو بیړنۍ اغیزې د خولې له وچوالي، خوبجن حالت، دماغي دندو خرابوالي، زړه بد والي، قبضیت، د پوستکي خارښت او د تنفس دسرعت له کموالي څخه عبارت دي. همدارنګه دغه ماده او دې ته ورته نشه یې او مخدره توکې په اوږدمهاله کې د تنفسي ستونزو، د سږو له ناروغیو، نمویا، د زړه التهابي ناروغۍ، آبسې، د ینې ناروغۍ، د حجراتو التهاب، سِل ناروغي، د زیږون پر مهال د کم وزنه ماشوم او د رشد ضعیفوالی، سقط، د ایډز او د تور زیړې خطر او حتی زیات مصرف یې د مړینې سبب کیږي[۷۰].

ځینې ډاکترانو ویلي: افیون سخته ناروغي راوړونکی دی کله چې څوک ورباندې روږدی شي، نو په مړو کې وشمارل شي، د هغې له امله اعصاب کمزوري او سستیږي. همداراز افین خور او د افینونو پوډر استعمالونکی له کاره وځي او د هیڅ کار ترسره کولو جوګه نه وي، همیش ذلیل او ښکه ته وي.. په تدریج سره خپله روغتیا له لاسه ورکوي، بدني، نفسیاتي او عقلي ځواک یې ورځ تر بلې خرابیږي..

**۳–کوکائین ( Cocaine):**

کوکائین چې د کوکا بوټي له پاڼې څخه جوړیږي دماغي منبهاتو یا تنبیه کونکو له ډلې څخه دي. سمدستي اغیزې یې هوښیاري، تنبیه کیدل، بې خوبي، د اشتها کموالی، د وینې د فشار او د زړه د حرکت او د بدن د حرارت زیاتوال دی. همدرانګه د ځای او مکان په اړه د حس بدلون، بې ځایه خبرې او اپلتې ویل،د حافظې ضعیفوالی او د وېرې او خفګان حملې دي.

اوږد مهاله اغیزې یې د د سترس پر وړاندې غبرګون، د سیستم په فعاله کیدلو کې زیاتوالی،د ماغزو اغیزمن کیدل، د دوپامینو په کچه کې بدلون،دسرطان د خطر زیاتوالی په ځانګړې توګه د سږو، سر او غاړې سرطان،تنفسي ناروغۍ او د سږو انتان،د معافیتي سیستم اختلال،د امیدوارۍ په دوره کې د جنین اغیزمن کیدل.[۷۱]

---

[۷۰]. وګوره: روغتیا مجله، پنځه ۲۵ ګڼه, ۱۳۹۳هـ ش، ص ۱۱ ، صحت عامه

[۷۱]. وګوره: روغتیا مجله، ۲۵ ګڼه، صحت عامه ۱۳۹۳هـ ش، ص ۱۱ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴– چرس:

په چرسو باندې روږدي کېدل بېلابېل روغتيايي تاوانونه لري او په ځينې حالاتو کې ډېر خطرناک تماميږي. اړونده څېړنې ښيې چې ۷۰٪ په سختو مخدره موادو (لکه هيروين) روږدي کسان په پيل کې چرسيان وو.

۱. پر دماغو اغيز: د انسان ادراک او دماغي احساس اغيزمن کوي، د وهم او خيال او د ذهني توازن له لاسه ورکولو لامل ګرځي..

۲. پر عصبي جهاز اغيز: دغه جهاز له خلل او عدم توازن سره مخ کوي، د اعصابو د ادراک او او ترکيز کچه کموي، په خفګان او پريشانۍ باندې اخته کيدل، د خيال او وهم په ګرداب کې د ډوبيدو له امله په زيات خوب، تنبلۍ او کسالت باندې اخته کيدل او آن تردې چې د اعصابو له لاسه ورکول کيدو او ليونتوب سبب ګرځي.

۳. پر تنفسي جهاز اغيز: داچې دچرسو په لوګي (دود) کې لومړی کاربون اکسيد شتون لري او هغه د سږي د سرطان له لومړنيو لاملونو په کتار کې راځي. د تنفسي جهاز دننه د وينې نرۍ رګونه تلف کوي چې دهغې په نتيجه کې د بلغمو تراکم کيدل او ټوخي زياتيدل رامنځ ته کيږي. او په ځينې حالاتو کې د سږي د پړسوب لامل کيږي چې دغه ناروغي د روږدي په مرګ باندې د تماميږي.

۴. پر هاضمې جهاز اغيز: د دې جهاز د بيلابيلو ناروغيو لامل ګرځي لکه بدهضمي، اشتهاء کميدل او ځينې وخت اشتهاء زياتيدل، همدارنګه د معدې تشنج او دهغې د فعاليت د ساحو کميدل.

۵. پر زړه باندې اغيز: د زړه په ضربان (ټکان) کې زيادت.اړونده څېړنې ښيې چې د چرسو د استعمال له امله د زړه د اوسط ضربان کچه څلور چنده زياتيږي او داچې وينه له خپل ځان سره اوکسيجن باروي، نو دغه ځواک کمزوری او راښکته کيږي چې ټول بدن ورڅخه اغيزمن کيږي. همدارنګه چرس څکول د وينې او ينې (ځيګر) د تخريب لامل ګرځي.

۶.پر جنسي او تناسلي ځواک باندې اغيز: په سړيو کې جنسي ځواک کمزوری کوی او په ښځو کې د مياشتني عادت په دوراني حالت کې خلل او خرابوالی رامنځ ته کوي. همداراز اړونده نړيوالې څېړنې ښيې چې ۲۰٪ د چرسو معتادين (نارينه او ښځينه) د شنډتوب (اولاد نه زيږولو) له حالت سره مخ دي..[۷۲]

---

۷۲. وګوره: مستشفى الامل لعلاج الادمان و الطب النفسي، پدې لينک ( info@hopeeg.com ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۵– نسوار او سګرټ:

تنباکو چې د دماغي منبهاتو یا د پاروونکو له ډلې څخه دي او د تنباکو له پاڼې څخه په لاس راځي، د نیکوتین په نامه دکیمیاوي مادې لرونکې دي او د نسوارو، سګرټو په ډول تیاریږي او یا هم د چلم او قیلون په واسطه کارول کیږي د استعمال لارې یې دود، د خولې د لارې او استنشاقي دي.

د طبي تجزیې لابراتوارونو ثابته کړې ده چې د سګرټو لوګی د روغتیا لپاره د ۱۲ ډولو مضره موادو لرونکی دی او په هاضمي سیستم کې د سرطانونو د رامنځته کیدو لامل ګرځي. د هغې استعمال یوازې د مرۍ، ژبې او خولې پر سرطان بسنه نه کوي بلکه پر معدې باندې هم ناوړه اغیزه کوي.د معدې د تیزابو د لوړیدو سبب کیږي چې د معدې د تیزابو تدریجي لوړیدل د معدې د ځنډني التهاب علت دی او معده د هاضمې اختلالاتو مختلفو ډولونو ته چمتو کوي، چې په بلآخره دغه اختلالات د معدې دسرطان سبب کیږي.

همدارنګه د سګرټو استعمال د سترګو د بڼو په شاوخوا کې د التهاب د رامنځته کیدو لامل ګرځي او هغه شریانونه بندوي کوم چې د سترګو ټولو طبقو ته غذا رسوي چې په پای کې د بصري عصب د التهاب سبب کیږي . همدا راز د نیکوتینو هغه زیاته کچه چې په سګرټو کې شتون لري د اوریدو اعصاب اغیزمنوي او د اوریدلو د حس د زیانمنیدلو علت ګرځي. علمې څیړنوداهم ثابته کړې ده چې د نیکوتینو کمه اندازه په مرکزي عصبي سیستم کې د تشنج د رامنځته کیدو سبب کیږي او د نیکوتینو زیاته اندازه د روحي او عصبي ناوړه حالتونو لامل ګرځي چې په پای کې داعصابو په عمومي سیستم کې د ضعف سبب کیږي. [۷۳]

لکه مخکې یې چې یادونه وشوه د چرسو تاوان او ضرر خورا زیات دی،نو د هغې حراموالی څرګند او روښانه دی، لکن په اړونده کتابونو کې د تنباکو او سګرتو استعمال په اړه داسې قطعي حکم نه لیدل کیږي، خو ځینې علماء د بیلابیلو دلائلو له مخې د تنباکو سګرټ هم حرام قطعي بولي چې د هغې مهم دلایل پدې توګه دي:

۱.سګرټ څکول له هغه خبائثو (چټلو شیانو) څخه دي چې د قرآن کریم په نص کې یې د حراموالي یادونه شوې،الله تعالي فرمایلي: (( وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ [۷۴] –او هغه– پیغمبرصلی الله علیه وسلم- خلکو ته چټل شیان حراموي)). خبائث هر هغه شي ته وایي چې نفسونه یې بد ګڼي او کرکه ورڅخه کوي.

۲. بدن ته ښکاره تاوان رسوي، د طبیبانو ترمنځ پدې کې هیڅ شک نشته چې هغه د سږو او زړه د ناروغیواو د نورو خطرناکو ناروغیو سبب کیږي.

---

[۷۳]. وګوره: روغتیا مجله، ۲۵ ګڼه, ۱۳۹۳هـ ش, ص ۱۰, صحت عامه

[۷۴]. الاعراف ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د سګرټ لوګی چټل دی، بوي يې بد لګيږي، نو که يو څوک سګرټ څکوي د څنګ هغه ملګري ته تکليف رسوي کوم چې سګرټ نه څکوي همدارنګه خپلې کور والا (ماندينې) ته يې اذيت رسيږي.

۴. په هغې سره د مال اسراف او بې ځايه لګول دي، پداسې حال کې چې د شرعِ له مخې په بې فايدې کارونو کې مال لګول حرام دي.

۵. که د سګرټو قطعي حراموالی ثابت نه وي، نو پدې کې شک نشته چې هغه يو مشتبه کار دی- داسې کار چې شرعي حکم يې ناڅرګند وي- او په احاديثو کې له مشتبه کارونو څخه منع راغلې ده.[۷۵]

او که نسوارو او د هغې معتادينو ته وکتل شي، نو ليدل کيږي چې په ځينو حالاتو کې د هغې اذيت او تاوانونه له سګرټو څخه کم نه دي، نو که د قطعي حرامو په کتار کې رانه شي، نو د سګرټ په څير د مشتبه شيانو په کتار کې راتلل يې باوري دي. والله اعلم.

لکه څرنګه چې د دې ليکنې په سريزه کې يادونه شوې د اسلامي شريعت په مقاصدو کې يو هم د عقل ساتنه ده؛ نو ځکه يې شراب او اړونده نشه يي او مخدره مواد حرام ګرځولي دي. د اسلامي شريعت له مخې چې شراب او هغې ته ورته نيشه يي او مخدره توکې حرام شوي دي پدې کې حکمت دادی چې د انسان بدن، عقل او مال ته تاوان لري او دا څرګنده ده چې د نشه يي توکو په سر کې شراب دي. اوسني طب دا ثابته کړې ده چې شراب د انسان بدن او عقل ته سخت او ډېر تاوانونه رسوي، تر دې پورې چې د جرمني په هېواد کې د هغه ځای يو ډاکټر په ټول جرات سره داسې غوښتنه وکړه: پدې هېواد کې نيمايي شرابخانې بندې کړئ! زه به تاسو ته له نيمايي عقلي روغتونونو او بنديخانو څخه د استغناء کيدو (او نه اړتيا) تضمين درکړم.[۷۶]

نو د دې څيړنو په رڼا کې موږ هم ويلای شو: زموږ د ټولنې او هېواد هغه ځوانګه او لګښتونه چې د روږدو پر درملنه، د نشيه يي او مخدره موادو د بنديز پر لارو چارو، او هغه پيسې چې په خپله يې روږدوي مصرفوي که دا ټول لګښتونه راجمع شي نو زموږ د هېواد د فقر او بې چارګئ په منځه وړلو کې خورا زياته اغيزه کولای شي.. همداراز د نشه يي او مخدره موادو د فتنې پر مخنيوي سره دا باوري ده چې په هېواد او ټولنه کې به مو بيلابيل اقتصادي، ټولنيز او علمي پرمختګونه رامنځ ته شي.

---

[۷۵]. وګوره: الفقه الإسلامي وأدلته, وهبة الزحيلي ۷/ ۴۳۸-۴۴۰

[۷۶]. وګوره: روائع البيان في تفسير آيات الأحكام, محمد علي الصابوني ۱/ ۲۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موضوع اړونده د پند او عبرت قیصې

داچې نیشه کول د اسلام په سپڅلي دین کې حرامه ده؛ دا ځکه چې انسان ته سراسر تاوان لري او هیڅ ګټه پکې نشته دی. نیشه که له یوه پلوه د انسان عقل او بدن خرابوي او له تباهۍ سره یې مخ کوي نو له بله پلوه یې مال دولت هم ختموي، چې بالآخره بیا نیشئي انسان له خپلې دارایي څخه خلاص شي، ګدایګرۍ ته مجبوره شي او بالآخر په ټولنه کې په نورو باندې بوج وګرځي. دا خو د دې حرام عمل دنیاوي سزا ده. او لکه څرنګه چې یې مخکې یادونه وشوه د آخرت سزایې داده چې نشه یان به په دوزخ کې د الخَبَال له ختې څخه خوارک کوي چې هغه د دوزخیانو خولې او زوې دي.( په هغه صورت کې چې نشه یان توبه ونه باسي او سره له ګناهونو مړه شي..).

له آخرت څخه مخکې په دنیا کې چې روږدې کسان له کومو سزاګانو او ستونزو سره مخ کیږي یا یې ورسره کورنۍ په پریشانۍ او مصیبت باندې اخته کیږي او یا داچې د نیشه یانو له امله مسلمانو ټولنو او اسلامي تشخص ته کوم تاوانونه رسیږي د هغې یو څه یادونه هم مخکې وشوه، لکن پدې ځای کې د عملي انځور په کارلو، درس او عبرت اخستنې لپاره د ټولنې له واقعي حالاتو څخه یو څو قیصې وړاندې کیږي:

### لومړۍ قیصه:

په یو اروپایي هیواد کې یومیشته مسلمان داسې قیصه کوي: که څه هم زمونږ په سیمه کې کافي مسلمانان اوسیږي.په هغوی کې زیات شمیر خلک له عربي هېوادونو څخه دعلم حاصلو او زده کړو لپاره راغلي دي. د اروپایي هیوادونو په بې بندوباریو او سهولتونو کې رنګ شوي خلک هم دلته موجود دي. پر دیني ښوونو باندې عمل کول خو لا ډیره لرې خبره ده د جَمعِ لمونځ هم نه کوي. کیدای شي دلته ځینې خلک داسې هم وي چې په کور یا د ننه په خپلې کوټې کې یواځې لمونځ وکړي. د دې یوه وجه داده چې دلته نه خو کوم مسجداو نه کوم امام شته دی.

یو وخت زمونږ سیمې ته یوعربي عالم راغی، د نوي ځوانانو دین طرف ته ترغیب کولو په خاطر هغه په خپل کور کې د قرآنکریم د درس لړۍ پیل کړه. نوي ځوانانو ته یې د لمانځه کولو تلقین او وینا کوله، کله چې هغو د مسجد او امام نشته والي بهانه وکړه، نو هغه په یو خالي ځای کې په خپله په جماعت سره لمانځه اداء کول پیل کړل،ورو ورو به د لمونځ کوونکو شمېر ډېریده اوپدغه ځای کې د مسلمانانو یو اجتماعیت او ټولنیز نظم رامنځ ته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي عالم به هر کال د رمضان په لومړۍ ورځ د سيمې ټولو مسلمانانو ته دروژه ماتې بلنه ورکوله. له روژه ماتي او ډوډۍ خوړلو وروسته به يې خلکو ته د روژې فضايل بيانول او ديني مسائل به يې ورزده کول. يوه ورځ يو نوي زلمي په روژه کې هغه خپل کور ته د روژه ماتي (افطار) لپاره راوباله، هغه بلنه او دعوت په خوښۍ سره ومانه. هغه ځوان زيات خوش طبع، ټوکندويه او ځينې وخت له حد څخه زيات مزاق کوونکی ؤ.

د ډوډۍ خوراك لپاره هغه ځوان نور ځيني دوستان هم رابللي وو. کله چې د ماښام آذان وشو، پداسې حال کې چې پر درسترخوان باندې قيمتي شيان هم ايښي وو، لکن هغه عالم له کجورو سره روژه ماته کړه. لدې وروسته ميزبان يو شربت راوړ هغه عالم ته يې ورکړ. نو هغه ورڅخه يو څو غړپونه وکړل، کله چې يې خوند وليدو نو بيا يې له خولې څخه راوګرځاوه او د کور خاوند ته يې وويل پدې کې خو څه بد نا اشنا خوند دی.

ځوان وويل هو، پدې کې عجيبه خوند دی. د جوسو يوې نوې کمپنۍ د خپلې مشهورتيا لپاره يو ځانګړی توليد صادر کړی دی، هغو داسې ويلي دي چې د دې شربت ذايقه او خوند له نورو ټولو مشروباتو څخه ښه او زيات توپير لرونکی دی.

عربي عالم د زلمي دغه خبره ريښتيني وګڼله او ټول ګيلاس يې وڅښه. بيا هغه جګ شو او خلکو ته يې د ماښام لمونځ په جماعت سره ورکړ. له هغې وروسته بيا چې کله د ډوډۍ خوړلو لپاره راغی او داچې په ميلمنو کې زياتو نوي زلميانو لمونځ ونه کړ، بهر يې ښه خنداګانې کولې، لاسونه يې پړکول او داسې خوشحالي يې کوله چې ګويا هغوی کوم جنګ ګټلی وي.

ځوان ميزبان له لمانځه نه وروسته هم د يو بل شربت ګيلاس راواخيست عالم ته يې ورکړ او هغې هم وڅښه. کله چې د هغې له څښلو فارغ شو نو هغه ځوان وويل: ای ملا صاحب مبارک دي وي چې نن تا روژه په شرابو ما ته کړه!

مونږ په هغه شربت کې د (وسکي) په نامه سره شراب ګډ کړي وو، نو په هغې سره يې خوند بدل شوی دی، بيا يې په خټ خټ او په زوره وخندل! له دوستانو به چې چا ليدلو نو هغو به هم خندل.مګر پدې خبرو اوريدو سره عربي عالم يو ډول وړچيد اونا څاپي لړزه ورباندې راغله، د بدن هر بند يې رپيدل شروع کړل او رنګ يې بدل شو.سمدستي يې په خپلې خولې کې ګوتې دننه کړې او څه چې يې تير کړي وو هغه ټول يې د حاضرو خلکو په مخ کې پر هغه قيمتي قالينه باندې راتوی کړه، بيا يې په اوچت آواز سره ژړا شروع کړه، له سترګو يې اوښکې رواني شوې، هغه ځوان يې مخاطب کړ ورته يې وويل: ای سړيه ته له الله تعالی څخه نه ويريږې!! زه روژه وم او د رمضان پدې مبارکه مياشت کې او ته مې کور ته رابلې تر څو پر ما باندې وخنديږې او بيا په شرابو باندې روژه ماته کړم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چې له ماسره څه وکړل هغه د میلمستیا د اصولو خلاف دي. د دغسې بې نزاکتۍ احساس د کافرانو سره هم شته دی،هغو دمیلمه خیال ساتي.دا ستاسو د بدوعملونو او ناوړه کړنلارو وجه ده چې نن فلسطین تباه کیږي.

زه دا دعوه لرم او وایم چې اروپایي کافران هم له تا څخه بهتر دي، هغو له مخکې داسې خبر ورکوي چې په خوراك یا څښاک کې کوم حرام شیان موجود دي ترڅو ورڅخه مسلمان ځان وساتي. ته یوائې په نوم باندې مسلمان یې،تا ما ته دوکه راکړه. دا کار دې صرف د دې لپاره وکړ چې د نورو ځوانانو په وړاندې په ما باندې ټوکې او مسخرې وکړې. الله دې تا په خپلو نیولو سره ونیسي!

د عالم په دغه خیرو او بد دعائي سره هغه ځوان زیات وارخطا شو. د غصې له وجې د عربي عالم له خولې زګونه راوتلل چې پدې سره هغه ځوان نور هم پریشانه شو، په څیره باندې یې پښیمانتیا او شرمندګي راښکاره شوه، بیا یې وویل: صاحبه ما معاف کړه! زه به ستا احترام کوم،دا ما همداسې یو مذاق کاوه او غلطي رانه وشوه.

بیا له څه خاموشۍ وروسته پداسې حال کې چې عالم د قالینې پر صفایي بوخت وو، هغه زلمي وویل تاسې په چوکۍ باندې کینئ زه دا قالینه په خپله پاکوم او تا لپاره ډوډۍ راوړم،که مهرباني وکړئ مه ژاړئ. زه په خپل جرم او غلطۍ باندې اعتراف کوم، زه ډیر پښیمانه او سخت شرمنده یم!!

لدې وروسته پر هغه محفل کې خاموشي خپره شوه، دعالم سلګۍ کیمدلې او ژړا یې رور رو کیده، وې ویل زه تا څنګه معاف کړم،تاپه قصد سره په ما باندې شراب وڅښل، حال داچې تا ته معلومه ده چې هغه حرام دي. پدې وخت کې ټول حاضرین حیران پاتې شول. دغه مهال عربي عالم په محفل کې په سجده باندې پریوت او داسې دعاګانې یې وکړې:

ای زما مالکه،ای زما خالقه،ای زما معبوده! ته پوهیږې چې ما په ټول ژوند کې شرابو ته لاس نه دی ورنژدې کړی. ای الله ته پوهیږې چې ما پدې اروپایي ښار کې پنځه کلونه تیر کړل مګر دلته مې غوښه فقط پدې خاطر ونه خوړه چې د دې ځای په حلالې او ذبحه کې شک دی.ای الله تا ته معلومه ده چې اوس زما د خوښۍ پرخلاف په تیر ایستنې سره په ما باندې شراب وڅښل شول. ای الله ما معاف کړئ،ای الله ما ته ښښنه وکړئ! ای الله هغه زما په ګیډه کې مه اور کوئ! ای الله د دې شرابو څښلو په وجه - چې زه ورباندې پوه نه وم- زما ګیډې ته اور مه رسوئ. ای الله زه له تا نه ښښنه غواړم نو ای ربه ما وبښئ!!

پدې حالت کې چې عالم پر سجده پروت وو د هغه زلمي یو انګریز دوست په نامه د( جیمز ) راجګ شو راغی د هغه په وړاندې ودرید. عالم هم له سجدې څخه راجګ شو له خپلو سترګو یې اوښکې پاکولې چې جیمز ورته وویل: مولوي صاحب! ته ګواه اوسه: اشهد ان لااله الا الله و اشهد ان محمدرسول الله- زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګواهي ورکوم پدې چې پرته له الله بل د عبادت مستحق نشته او ګواهي ورکوم پدې چې محمد(صلی الله علیه وسلم) د الله پیغمبر دی.
انګریز دغه کلمه پداسې اوچت آواز سره ولوسته چې یواځې د مجلس حاضرینو وا نه وریده بلکې بهر ناستو ځوانانو هم واوریده،نو ټول کوټې ته راداخل شول. ښاغلي جیمز وویل: مولوي صاحب زه همدا اوس ستاپه لاسونو مسلمان شوم.زه ستا مسلمانورور کیدل غواړم، ما ته اسلامي نوم کیږده. زه له تاسره یم. پدې وینا ویلو سره ښاغلي جیمز ژړا پیل کړه،د هغې په لیدلو سره عالم هم په ژړا شو. د دواړو په لیدلو سره په اپارتمنت کې ناست ځوان میزبان او دهغې ټول میلمانه دوستان زیات متاثره شول او په ګرد چاپیره ځای کې فکرمندي او هیبت خپور شو.
کله چې د ښاغلي جیمز ژړا غلې شوه، نو په سکون او آرام سره کیناست.بیا یې ټول نوي زلمیان او دوستان مخاطب کړل داسې یې وویل: تاسې هر یو دلته په خپلو خپلو کارونو کې مصروف وئ، تاسې به ګپ شپ کاوه، خندل به مو، پداسې حال کې چې زه دلته په بل فکر او سوچ کې ډوب وم.
کله چې زه دلته ورسیدم نو راته څرګنده شوه چې دلته یو عربي عالم هم راغلی دی. ما فکر کاوه چې د هغه پلرنی وطن په زرګونو کیلو متره لرې دی. دغه چاپیریال د ده له چاپیریال سره ډېر توپیر لري. خو لدې سره سره هغه روژه نیسي. ما له خپل ځان څخه پوښتنه وکړه چې آخر دای ولې روژه نیسي؟ ولې خوراك او څښاک بندوي،ولې ټوله ورځ د لوږې او تندې تکلیف ګالي.
څه لامل دی چې دای د روژه ماتي په وخت کې بیلابیله میوې پریږدي او کجورې تلاش کوي. پدې حالت لیدلو سره زه هک حیران شوم. زه پوه شوم چې په کجورو باندې روژه ماتول د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت طریقه ده.پداسې حال کې چې کجورې د ګرمو سیمې پیداوار دی او دلته (چې یخه سیمه ده) ډیرې کمې پیداکیږي.
ما ولیدل چې له رژه ماتي وروسته دې عالم ډوډۍ او خوراک ته پلتې ونه وهله بلکې لمانځه اداء کولو ته ودرید او دای چې کله له درسترخوانه پاڅید نو ټول حاضرین ورسره راپاڅیدل، ځینې ورسره په لمانځه هم ودریدل، ده په ډېر په آرام او سکون سره لمونځ اداء کړ. ما د هغه هر یو حرکت څاره. متاسفانه چې لده سره یو څو کسانو لمونځ وکړ او نور پاتې ټول بیاپه خوراک،لوبو او مذاق کولوکې اخته شول. هغه له لمانځه وروسته په ډېر آرام سره دعاء وکړه او د یو څه وخت لپاره ناست وو الله تعالی یې یاداوه(ذکر او تسبیحات یې کول).
بیا کله چې دغه زلمي وربادې شراب پداسې حال کې وڅښل چې دای خبر نه وو، نو ما ته له ټولو نه زیاته حیرانوونکې داوه چې هغه سمدستي په خوله کې ګوته دننه کړه ترڅو هغه خوراک او څښاک قئ کړي چې شراب ورته رسیدلي دي. هغه د دې پروا نه کوله او نه یې دا غم کاوه چې دا قئ کول خو د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وړاندې په کوټه کې او پر قیمتي پاکې قالینې باندې تر سره کیږي. د عالم دغه کار فطري وو؛ دا ځکه چې کله هغه ته د شرابو څښلو معلومات وشو نو د مار چیچلي په څیر ورپیده، ویخته یې زګه شول او له سترګو یې د اوښکو سیلابونه روان شو.

حقیقت دادی چې که یو څوك د ایمان او دینداری دغسې مرحلې ته ورسیږي نو پداسې حالت رامنځ ته کیدو سره هغه بیا خپل مجلس او ورسره ناست خلک هیروي،یواځې او یواځې یې خپل رب سترګوته کیږي او هغه طرف ته متوجه کیږي. زه باید تاسې ته خبر درکړم چې ما د اسلام په هکله پراخه مطالعه کړې ده.او کله مې چې له تاسې سره دوستي شوه نو په اسلام باندې پوره پوه شوم. مګر ما به همیش اصلي مسلمان تلاش کاوه. تاسو ټول د اسلام او دین په باره کې ښه خبرې کوي، خو لدې سره سره ځینې په تاسو کې زما په څیر بې دینه دي چې شراب څښي،جواري کوي او کوم کارونه چې مونږ مسیحیان کوو تاسو یې هم کوې. په عیسیانو اوتاسې کې د ذرې په اندازه کوم فرق نشته دی.

نن ورځ چې کله ما یو حقیقي مسلمان ولید ،نو خپل احساس او جذبه مې له واکه ووتله. الله ته شکر دی چې اوس زه په سهي معناګانو مسلمان سره مخ شوم، اوس مهال ما ته معلومه شوه چې د محمد صلی الله علیه وسلم ریښتیني محبت کوونکي څوک دي، نن ورځ ما د خبرو په ځای عمل او کردار ولید.

لدې وینا وروسته ښاغلی جیمز یو څه خاموشه شو. پداسې حال کې چې پر مخ یې اوښکې راروانې وې عربي عالم ته یې وویل: تاسې ما ته لمونځ راوښایست! له نن څخه وروسته زه ستاسې ورور یم. د الله شکر کوم چې ته یو حقیقي مسلمان یې راته وښودلې او ستا په ملاقات یې مشرف کړم.

ټولو حاضرین حیران ناست وو د ښاغلي جیمز خبرې یې اوریدې. هغه دیني عالم او د اسلام داعي ښاغلی جیمز ځان ته راغاړې ایسته، له سره یې ورته کلمه تکرار کړه او اسلامي نوم یې ورباندې محمد کیښود. بیا یې حاضرینو ته وویل: الله ته شکر دی چې زما دعاء یې قبوله کړه، له الله څخه ډېر شکر ګوزار یم چې زما په لاس باندې یو کافر مسلمان شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: که ستا په وجه یو سړی هم سمه لار مندونکی شي نو دا کار تا ته له دنیا او څه چې پکې دي بهتر دی.

په پای کې عالم هغه زلمي ته مخ ورواړاوه ورته یې وویل: ځویه! پر ما دې چې څه وڅښل له هغې مې معاف کړې،الله دې درته ښښنه وکړي! پدې وینا اوریدو سره هغه ځوان په زوره آواز سره ژړا پیل کړه او وې ویل: زه نن له تاسره دا وعده کوم چې لدې وروسته به هیڅکله نه لمونځ قضاء کوم او نه به شراب څښم. او ما چې ستا په وړاندې کومه ګستاخي کړې ده د هغې په کفارې کې به په همدې کال کې حج

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداء کوم. د ځوان پدغسې پښېمانتيا او له بدو کارونو څخه په توبه ويستلو باندې عالم ډېر خوشحاله شو ، هغه يې خپلې غاړې ته رانژدې کړ او د ډېرې خوښۍ اظهار يې ورڅخه وکړ.[٧٧]

**دويمه قيصه:**

د ښونځي يو زده کوونکی ذيشان چې د متوسطې مرحلې ازموينه ورکړه بيا يې د نتايجو انتظار کاوه، يوه ورځ يې خپل پلار ته وويل: که زه په لوړو نمبرو کامياب شم نو په انعام کې به څه راکړې؟ د هغه پلار ( چې نوم يې جمال وو ) وويل: زه به تا د ګرمۍ په رخصتيو کې ماما کره حبشې ته وليږم ترڅو ټوله رخصتي هلته تيره کړې نوي ځايونه وګورې او سيالونه وکړې.

ذيشان چې د مور اوپلار لومړی او تر ټولو لايق او قابل ځوی وو ، هغه يوائې خپل پلار مور نه، بلکې ټولې کورنې ته خوښ وو. د لياقت او ذهينوالي په وجه يې ماما او ماما زامنو هم احترام کاوه.کله چې د ازموينو نتيجه اعلان شوه، نو دای د خپلې سيمې په کچه دويم نمره راغی. په ازموينو کې د لوړ مقام ترلاسه کولو له امله يې والدين ډېر خوشحاله شو او د هغې وعدې برابر چې ورسره کړې يې وه حبشې ته د ليږلو پروګرام ورته ونيول شو.

د سفر لپاره په ترتيباتو نيولو کيدلو سره ذيشان ډېر خوشحاله وو او د دې اتنظار يې کاوه چې کله به روانيږي. په پای کې هغه ورځ راورسيده چې حبشې ته په تلونکي پرواز کې ذيشان وروسته لدې چې له مور او پلار سره يې په هوايي ميدان کې خدای په اماني وکړه سپور شو. په الوتکه کې دا د ذيشان لومړی سفر وو چې ورته ډېر جالبه او زړه پورې معلوميده. په الوتکه کې هغه ډير خوشحاله ؤ ،خو کله به چې الوتکې جټکه وکړه، نو يو څه وېره ورباندې راغله.

د حبشې په هوايي ميدان کې ذيشان ته ماما او ماما زامن د استقبال لپاره ولاړ وو، په هغه ځای کې دای له يوې نوې نړۍ سره بلد شو او د هغه هېواد نژدې ټول د سيل ځايونه يې وکتل.

ذيشان د خپل ماما له حرکاتو څخه دا محسوسه کړه چې د بدن توازن يې برابر نه دی؛ ځکه چې هغه به کله ناکله بې مناسبته خندل او ژړل .همدارنګه ځينې وختونه به د تګ په دوران کې په درز سره په ځمکه راپريواته. سترګې به يې تکې سرې اوختلې او له خولې به يې غريب او عجيب الفاظ راويستل.

لومړی ذيشان پدې نه پوهيده چې ماما ته يې څه مسئله ورپيښه شوې ده او ولې دغسې حالت ورباندې راځي،لکن يو څو ورځې وروسته يې ورته راز ښکاره شو. هغه پدې وپوهيد چې ماما يې بيلابيل مخدره توکي استعمالوي. هسې خو ده ته معلومه وه چې پدې ځای کې خلک د شرابو څښلو عادت لري، خو د دې ټول حالت سبب يوائې دغه بد عادت نه وو.

[٧٧] وګوره: قصص ابکتنی ص ١٤٣- ١٤٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یو حقیقت دی چې ملګري او چاپیریال په انسان باندې یا ښه او یا بد اثر کوي، نو پدې بدځای کې د اوسیدو او بد حالت په لیدو سره ذیشان هم د شرابو څښلو شوق وکړ.متاسفانه چې په هغه چاپیریال کې شراب په آسانۍ سره پیدا کیدل.

ذیشان ته به لومړی شیطان په زړه کې دا فکر اچولو چې راځه یوه تجربه وکړه ترڅو درته معلومه شي چې د هغې په څښلو سره څه شی محسوس کیږي. همداوه چې ببا یې یوه ورځ د لومړي ځل لپاره په ژوند کې شراب وڅښل.دغسې حرام څښل که څه هم ورباندې ښه ونه لګیدل، لکن د خپل ماما د څښلو په لیدو سره یې ببا دویم او دریم ځل هم وڅښل، چې رو رو له یو وخت نه تربله پورې ورباندې روږدی شو.کله چې ذیشان پدې حرام کار باندې پیل وکړ نو دغه مهال یې عمر (۱۴). کاله وو.

رخصتي پای ته ورسیده او ذیشان له خپل ماما سره جدې ته واپس راغی. هغه پدې ځای کې هم د نیشې کولو خوبونه لیدل او هر وخت به د شرابو په پلټنه اوتلاش کې سرګردانه وو. دلته د هغه زیات فکر او سوچ پدې کې وو چې له کومه ځایه او له چا څخه یې لاس ته راوړي.او کله چې یې نشو ترلاسه کولی ،نو په مجبورۍ او بې وسۍ سره ورڅخه دغه بد عادت پاتې شو.

اوس نو ذیشان خپل هغه پخواني – له رختصۍ څخه مخکې – حالت ته وروګرځید ، لومړی ورته دغه عادت پریښودل سخت وو، لکن وروسته بیاپه طبیعي توګه خپل حالت ته راغی،چې په دې توګه یې درې کلونه په خیرخیریت کې تیر کړل.

له بده مرغه چې داځل ذیشان دویم ځل له خپل ښه چاپیریال څخه بیا د بد چاپیریال په لور روانیږي، هغه داچې پلار یې جمال له خپلې کورنۍ سره د ګرمیو په رخصتۍ کې کوم اروپایي هیواد ته دتللو اراده وکړه او بیایې هغه د خپلې کورنۍ دنورو غړو سره فرانسې ته بوتلو.کله چې هلته ورسیدل نو ذیشان ته خپل هغه بد کار (شراب څښل) را په یاد شو او لدې موقع څخه په استفادې سره دویم ځل یې هم شراب څښل پیل کړل.د بد چاپیریال او ځینو بدو دوستانو له وجې اوس بیا ذیشان په بدعملۍ لاس پورې کړ.

یوه ورځ هغه د یو خپلوان او دوست (فوزان) سره د شپې کوم کلب ته لاړ، د مزو او چړچوکولو په موخه هلته دواړو شراب وڅښل.له هغې وروسته فوزان له خپل جیب نه یو ډبې راوویست پوزې ته یې نژدې کړ او بوی یې کړ، ذیشان وپوښتل دا څه شی دی؟ هغه وویل دا تور چرس دي چې له شرابو یې هم مزه زیاته ده. ده وویل: راکړه چې زه یې هم خوند وڅکم. لږ شیبه وروسته یې ورته دغه نیشه کونکی څیز ورکړ. د ذیشان په وهم او خیال کې دا نه راتلل چې دغسې نیشې به په آینده کې زما ژوند تباه کوي.

د نیشه یي توکو د استعمال خوند د لږې شیبې لپاره وي،کله چې نیشه ختمه شي نو بیا په نیشئي باندې دنیا بل مخه واوړي. په حقیقت کې نیشه کونکی نیم انسان وي،د هغه تاوان یواځې د هغه ځان ته نه بلکې خپلې کورنۍ کلي او ټول ولس هم ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخل د بد ملګري (فوزان) په سبب ذیشان له شرابو نه علاوه په ډېره بیړه سره د تورو چرسو په نیشې باندې هم اخته شو. اوس نو د هغه بشپړ ژوند بدل شو، د جیب ټولې پیسې به یې په نیشه یې توکو رانیولو باندې لګیدې او ذهني صلاحیت او ځواک یې په زوړتیا روان وو. له اروپا څخه خپل هېواد ته پداسې حالت کې راستون شو چې پر سختې او خطرناکې نیشې باندې روږدی شوی وو.

کله چې خپل هېواد ته راغی داسې ځوک یې ونه موندل چې پدغه بد کار کې یې ملګرتیا وکړي، هغه په تنهائي سره د تورو چرسو د ترلاسه کولو لپاره پوره کوښښ کاوه. پخپلې سیمې کې د لازمې تجربې نه درلودو او د نیشه یې توکو د سوداګرو نه پیژندنې له وجې هغه سرګردان وو. وروسته له یو څه تلاش او پلټنې وروسته یې پدې ځای کې هم یو داسې ځوک وموند چې پدې بدې او تباه کونکې لار کې ورته رهنمایي وکړي دا ورته وښایي چې نوموړي نیشه له کوم ځای او د کومو خلکو له لارې لاس ته راوړل کیږي.

د هغه لداسې یو چا سره لیدل هم وشو کوم چې ورته وویل: ته چې د کوم نیشه یې توکې پوښتنه کوې له هغې نه ماسره بهتر داسې ځیز شته دی چې کله یې استعمال کړې دومره مزه به درکړي چې مخکینې ټولې نیشې به درڅخه هیرې کړي. همدا وه چې ذیشان ورته په پټو سترګو لاس وراوړد کړ هغه ورته هیروین ورکړل، بیا یې یوه ستن هم ورته ولګوله.

د نیشه یې توکو سوداګر د دې لپاره چې ځان ته بېار او ګاك پیداکړي، په پیل کې یې ذیشان ته په مفته سره هیروین ورکول او کله چې هغه د یو څو ورځو په تیریدو په پوره ډول د هیروینو عادتي وګرځید نو بیا به یې د زیات قیمت په بدله کې ورکول.اوس نو د دغسې نیشې کولو په خاطر ذیشان له مور پلار او دوستانو څخه پیسې غوښتلې خو هیچا ته دا معلومات نه وو چې داې په څه شي کې مصرفوي.

کله به چې د ذیشان نیشه ختمه شوه نو دا احساس به ورته وشو چې دا یوغلط کار دی چې زه یې کوم، دا ډېر بد عادت دی چې زه ورباندې روږدی شوې یم. هغه په هر حالت کې د دې بد عادت پریښودل غوښتل،لکن کله به یې چې د نیشې وخت راغی نو بیا به یې د هغه ماهي په څیر پړسکې وهلې چې له اوبو راوویستل شي. د نیشې دلعنتي عادت په وجې له هغه څخه له دولسم ټولګي نه وروسته د پوهنتون مرحلې زده کړې پاتې شوې، پداسې حال کې چې په متوسطو زده کړو کې هغه دخپلې سیمې په کچه لوړ مقام ترلاسه کړې د سرو زرو میډال یې هم ګټلې وو. بیا په ثانوي زده کړو کې هغه اتیا سلنه (% ۸۰) نمرې اخستې وې او د سیمې د تعلیمي بورډ په کچه لسم نمبر راغلی وو.

مګر کله چې د نیشې په لعنت ګرفتار شو، نو بیا یو له بله پسې درې ځله د کانکور په ازموینو کې ناکام شو.دا ځکه چې له زده کړې او مطالعې څخه یې زړه تور ګرځیدلی وو. او که چیرې دې به ته اړ شو چې زده کړه وکړي نو څه به یې په ذهن کې نه راتلل. داخو لاڅه چې کله به یې هغه کتابونه ولیدل دکومو په لوست سره چې یې په ازموینو کې نوي سلنه (% ۹۰) نمرې اخستې وی، نو داسې به یې محسوسوله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګویا هغه یې له سره لوستلي نه دي. له هغه نه هر څه هیر شوي وو. یواځې نیشې ورته اهمیت درلود او همدغه کسب ورته پاتې وو. غلا کول او دهغې په پیسو باندې هیروین اخیستلو هغه د انسانیت له سطحې نه غورزولی وو.

یوه ورځ هغه د نیشیي توکو اخیستلو لپاره پیسې پیدانه کړې او کله چې بله چاره ورسره نه وه، نو د خپلې مور د ګانې او زیوراتو غلاکولو برنامه یې جوړه کړه. د شپې کله چې د کور خلک ټول ویده شول په مخ باندې تمبوزک وهلی د مور کوټې ته ننوته الماري یې راپرنیسته او ګانه یې ورڅخه راواخیسته.

پدغه دوران کې یې چې کله مور راویښه شوه، سخته وېریده، سمدستي په تیخته شوه، شور ماشور یې جوړ کړ او دا آواز یې وکړ چې غل راغلی، غل راغلی.

مور یې د کور په انګړ کې په درز درز تللو، په ځمکه راغورزیدو او بیا جیګیدو په حالت کې وه چې غل له کوټې راوت.کله چې د کور نور خلک هم راویښ شول، نو غل په مول وهلي (تمبوزك ) حالت کې د کور په دروازه د وتلو په حالت کې وو.

پدې وخت کې عبدان –چې د ده ورور وو- ورپسې منډه کړه او هغه یې را ایسار کړ. د دې لپاره چې ذیشان له خپل ورور څخه خلاص شي ونه شرمیږي هغه یې په سینه کې په چاقو باندې وواهه او په تیخته سره یې ګانه له ځان سره یوړه. دغه مهال چې بهر په سرک باندې د پولیسو ګاډی تیریدو هغو ولیدل چې یو نوي زلمي له کور نه څه شی راخستی دی منډې وهي او په جامو باندې یې وینې هم ښکاري. نو د پلټنې او پوښتنې په خاطر یې سمدستي ودروه، بیا یې د شک ویستنې په موخه او د تحقیق لپاره دپولیسو مرکز ته ولیږه. او ورور یې (عبدان) له چا قو وهل کیدلو وروسته روغتون ته په لاره باندې ساه ورکړه.

د راروانې شپې اصل حقیقت پولیسو معلوم کړ چې د عبدان وژونکی او له هغه کور نه ګانه تختونکی غل بل څوک نه دی بلکې د جمال مشر ځوی او د عبدان سکنی ورور ذیشان دی. پدې خبر اوریدو سره د ذیشان مور او پلار د یو لوی مصیبت او خفګان سره مخ شول. مور یې بې هوشه پر ځمکه راوغورزیده چې د څو ورځو لپاره په روغتون کې بستر شوه. او په پلار باندې یې د زړه سکته راغله او مړ شو.

د اولاد سالمې روزنې ته د نه پاملرنې په سبب، د بد چاپریال او بدو ملګرو او د نیشې د سزا له امله د جمال کورنۍ رنګه شوه،خوشحالي او آرام یې لمنځه ولاړ .

اوس نو ذیشان د زندان په پنجیرو کې د روښانه تیر په یاد کې ژاړي او له سترګو یې د اوښکو سیلاب بهیږي. هغه ذیشان چې په خپله سیمه کې د خلکو لپاره یوه بیلګه وو، هر چا به خوښاوه ، بې حده ذهین

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولایق زده کوونکی وو، لکن د نشې په عادت سره يې خپله زندګي تباه کړه، هغه په زندان کې اوس پښیمانه دی، لکن پښیمانتیا ورته څه ګټه نه رسوي.[۷۸]

## دریمه قیصه:

له نن څخه تقریبا درې کلونه مخکې کله چې پر یوې لارې تیریدم نو پر داسې یو ټولې خلکو ورغلم چې ټول د هیروینو د نشې پر لعنت باندې ګرفتار وو. د هغوی شمېر چې له دیرشو څخه زیات ښکاریده، ټول سره یو ځای پر یوچټلځای کې راجمع شوي وو، کله چې هغه ځای ته پر نژدې لاره تیریدم، نو سلام مې پرې واچاوه، پدې احساس ورنژدې شوم چې دا خو هم له موږ سره په انسانیت اوبیا په اسلامیت کې شریک ورونه دي، متاسفانه چې پدې بدحال کې شپې او ورځې تیروي، ما له ځانه سره وویل راځه څه خبرې ورسره شریکې کړه:

له سلام کولو وروسته مې وویل: ټول وواياست! **لا اله الا الله محمد رسول الله محمد رسول الله** . هغو ټولو وويل: **لا اله الا الله محمد رسول الله**. ما وويل: وواياست! نشته دی لایق د عبادت پرته له الله تعالی څخه او محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر دی. بیا مې وویل: داسې هم وویاست! نشته دی لایق د عبادت او بندګۍ، ځای د سوال او د زاریٔ په ټولو حاجتونو او مشکلاتو کې بې له الله تعالی څخه. او محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر( د هدایت پیغام راوړونکی دی).[۷۹]

هغو ټولو راسره د کلمې د الفاظو ترڅنګ دا معناګانې هم په یو اواز تکرار کړې، چې لدې امله مې په زړه کې د زیاتې خوشحالۍ احساس وکړ، له ځان سره مې وویل؛ الحمد لله پدې خلکو کې –که څه هم په ډېرې بې سدۍ او بد حالۍ کې شپې او ورځې تیروي- لا تراوسه دومره استعداد او د توحید د کلمې تکرارولو وړتیا شته دی، خو څه وکړو، لومړی همدوی له خپلو ځانونو سره ظلم کړی دی او پدې بد عمل لاس پورې کولو سره يې دې بد حالت ته ځانونه رارسولي دي. نو هغوی ته مې وویل! زه ستاسې پدې حالت باندې ډېر خواشینی یم، لکن تاسې له خپلو ځانونو سره په خپله ظلم کړی دی.

پدې خبرې اوریدو سره سمدستي له هغوی څخه یو ځوان ودرید وې ویل: نه، موږ له خپلو ځانونو سره په خپله ظلم نه دی کړی، بلکې له موږ سره عام خلک ظلم کوي. یو بل پکې ودرید وې ویل، نه صاحبه! له موږ سره حکومت ظلم کوي. ځینې نور یې هم ودریدل او هر چا خپلې خبرې پیل کړې. پدې حالت لیدو سره چې په هغه ساحه کې یو څو کسانو زما هغه لومړنۍ بیان (له هغوی سره د توحید د کلمې تکرار او معنی ویل) ولیدل نو نژدې راغلل بیا د هغوی دا خبرې یې هم واوریدې او په خندا باندې شنه شول.

---

[۷۸]. وګوره: ای ګنهګارانو له الله څخه وویریږئ! ژباړه: محصل غازي زاده ص ۲۹-۴۱

[۷۹]. د هېواد مشهور او وتلی زاهد او رباني عالم مولوي قلم الدین رحمه الله به د خپلو تبلیغي بیانونو په ترځ کې کله ناکله د کلمې د معنا په څرګندولو کې دا دویمه معناهم کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی حاضر او زما د زړه په حالت باندې ګواه دی چې د هغوی پدغسې وضعیت لیدو باندې زیات خفه وم، د هغه نشه یې دا خبره چې موږ سره عام خلک ظلم کوي او هغه بل یې چې وویل: له موږ سره حکومت ظلم کوي،پدې سره مې هغه پخوانۍ باور لا زیات قوي شو چې عام خلک او حکومت د نشه یانو سره پدې ظلم کې شریک دي.

زما هغه لومړی خبره چې ای ورونو! تاسې په خپله له ځانونو سره ظلم کړی دی، پدې کې هیڅ شک نشته چې پدې جرم او دې بد حالت ته رسیدو کې لومړی همغوی پر خپلو ځانونو تیری او ظلم کړی دی.او هغه دویمه دعوه چې ګویا له هغوی سره عام خلک ظلم کوي. د دې تشریح داده چې ځینې عام مسلمانان د خپلې مادي ګټې په خاطر دوی ته داسې هیروین، یا اړونده پوډر او نور بلا بتر جوړوي او ورباندې پلوري یې چې په ډېر کم وخت کې د هغوی ځواني، عقلي او جسمي ځواک له زوره غورزوي او انساني حیثیت یې ختم شي.. همدارنګه هغه عام خلک چې کوکنار کري او بیا ورڅخه افیون اخلي دوی هم خپلې مادي ګټې ګوري.. ایا داسې خلکو کله هم دا فکر کړی دی چې زما د دې کار کونښ بالآخره د انسانیت پر تباهۍ او بربادۍ باندې منجر کیږي او پدغسې یو ناوړه او انسان ضد کار کې خپله برخه اخلو؟

حکومت هم لکه څرنګه چې د رعیت دنورو چارو په وړاندې مسئول دی د نشه یې او مخدره موادو د تولید، پیر پلور او داسې نورو اړونده کارونو په اړه هم مسئولیت لري.لکن بدبختانه چې حکومتي اداري د داسې جرمونو په مخنیوي کې پاتې راغلي دي. هر چا ته دا جوته ده چې ځینې حکومتي کسان پرځای د دې چې د نشه یې او مخدره توکو مخنیوي وکړي دغسې کارونو ته لاري هواروي. د یو تازه خبر او راپور له مخې کله چې د یوې رسنې استازي د یو ولایت له قوماندان څخه پوښتنه وکړه چې ستاسې د ولایت پدې ښار کې چې دا نشه یان او په مخدره توکو روږدي کسان پر زیاتیدو دی، د ښار ښه یې هم خرابه کړې دی، دوی ته دا مخدره او نشه یې توکي څوک رارسوي او تاسې یې ولې مخنیوی نه کوئ. نو د دی پوښتې ځواب ورکولو ته هغه قوماندان چمتو نه شو، بلکې خپل تلیفون او یا ګرځنده (موبایل) یې بند کړ.[80]

نو رارځئ چې د عامو خلکو داصلاح ترڅنګ په حکومتي چارواکو کې هم د خپلو مسئولیتونو اداء کولو احساس را پیداکړو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ)). خبردار! هر یو له تاسې شپونکی دی او هر یو به له تاسې د ماتحتو په باره کې پوښتل کیږي،نو هغه څوک چې د خلکو امیر ټاکل شوی وي هغه شپونکی دی او د رعیت په هکله به پوښتل کیږي او یو سړی د خپلې

---

[80]. وګوره: آزادي راديو (ويبپاڼه) يکشنبه ۱۷ چنګاښ ۱۳۹۷ لمریز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ شپونکی دی او د هغوی په اړه به پوښتل کیږي، همدارنګه یوه میرمن د خپل میړه د کور او د هغه د اولاد شپونکۍ ده چې د هغوی په باره کې به پوښتل کیږي، همداراز غلام د خپل بادار د مال ساتونکی دی او د هغې په باره کې به ورڅخه پوښتنه کیږي. پوه شئ! نو هر یو له ستاسې شپونکی دی او د خپل رعیت او ما تحتو په هکله به پوښتل کیږي.

علماء وایي دا حدیث پدې باندې دلیل دی چې د امت او ولس چارو ته پاملرنه د رئیس دولت فرض دي. په حقیقت کې دغه مسئولیت یو مشر او حاکم ته د الله تعالی له پلوه ورکړل شوی دی.او د شپونکي په حیثیت سره هغه ته د خپلو ماتحتو او رعیت ساتنه حواله شوې او دغه امانت ورسپارل شوی. امام شافعي رحمه الله ویلي دي: (( **منزلة الإمام من الرعية منزلة الولي من اليتيم**)).[81] د رعیت په وړاندې د مشر مقام داسې دی لکه د یتیم په هکله د هغې د سرپرست مقام.[82]

نو ایا زموږ هېواد به لداسې چارواکو او مسئولینو څخه برخمن شي چې په واقعي معنا سره د شریعت نافذولو ته متې رابډ وهي،د اسلامي لارښونو برابر د رعیت د سوکالۍ، هوساینې او نجات لپاره کار وکړي، عدل تامین کړي، په ټولنه او هېواد کې د هر ډول فجایعو، ظلمونو، خیانتونو او بدکاریو مخنیوی وکړي. د موجوده فتنو لکه بې حیایي، د پردیو کلتور خپریدل، نیشه او مخدره توکو ناورین. الله تعالی ته آسانه ده چې کله موږ د ځانونو ،د کورنیو، ټولنې او د هېواد عامو او خاصو وګړو سمون او اصلاح ته مخه کړو، علماء ،دعوتګران او با احساسه خلک پدې اړه خپل مسئولیتونه اداء کړي. او د عامو او خاصو خلکو عملونه پر شرعَ باندې برابر شي، نو نژدې ده چې له مومنو، عادلو او بااحساسه مسئولینو څخه برخوردادره شو.

---

[81]. الاشباه والنظائر للسیوطي ص ۱۲۱

[82]. وګوره: د اسلام د حکومتي نظام قواعد، ژباړه: محصل غازي زاده، ص ۸۷- ۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په اړونده مبارزه کې اړین ګامونه

لکه څرنګه چې يې مخکې يادونه وشوه، د موجوده حکومت له پيله تر اوسه پورې د مخدره موادو پر ضد مبارزې په نتيجه کې څه ځانګړې لاس ته راوړنه نه ده شوې. د ځينې راپورونو پر اساس ويل کيږي چې له هغه راهسې چې دامريکا په مشرۍ بهرنيو عسکرو پر افغانستان لښکر کشي کړې ده په دغه هېواد کښې د کوکنارو کر او توليد زيات شوی دی. سره لدې چې په تيرو کلونو کښې دنشه ايزو موادو د جرړې د ايستلو لپاره زياتې ژمنې شوی وې او پر افغانستان باندې د بريد پر مهال د امريکا يو شعار دا وو چې په افغانستان کښې به دنشه ايزو موادو توليد له مينځه يوسي، خو څرنګه چې دامريکا لخوا دافغانستان د جنګ د ختميدا شعار متحقق نشو، نو هغه شعار هم تحقق ونه موند، بلکې په دغه هېواد کښې دنشه ايزو موادو توليد څو برابره زيات او لا په زياتيدو دی..[۸۳]

پدې ځای کې د مخدره او نشه يزو توکو د مخنيوي په موخه دا لاندې وړانديزونه د پام وړ ګڼو:

۱. د الله تعالی د رضاء لپاره او د د ينې وجيبې او مسئوليت له مخې بايد چې هر مسلمان د دې ناروا کار په مخنيوي کې هلې ځلې وکړي.

د ايماني وجدان او احساس له مخې يو مسلما بايد پرانسان باندې ترحم او مهرباني ولري، همدارنګه يومسلمان يوازې د بل مسلمان د نجات او ژغورنې لپاره نه بلکې د ټول انسانيت د لارښوونې او هوساينې لپاره هلې ځلې او کوښښونه وکړي.

موږ د داسې يو پيغمبر صلی الله عليه وسلم امتيان يو چې الله تعالی د ټولو عالمينو لپاره رحمت راليږلی او پر لارښوونو کې يې يوازې پر انسانيت نه بلکې پر حيوانيت باندې هم د رحم کولو تاکيد شوې دی. نو مسلمان ته د هغه په پيروۍ کې دا مسئوليت هم سپارل شوې چې د خلکو لپاره د رحمت او مهربانۍ پيغام ولري.

ايا دا به مناسبه وي چې يو مسلمان دې په خپل شاوخوا کې روږدي کسان (لکه شرابيان،پوډريان او چرسيان) ګوري او د هغوی په وړاندې دې خپل مسئوليت ته پاملرنه نه کوي؟

همدارنګه يو مسلمان دې ځينې داسې د پوډرو معتادين ګوري چې له حيواناتو څخه هم زيات ذليله ګرځي او بيا دې ورته فکر من کيږي نه، د هغه پر حالت دې د ده په زړه کې پر انسانيت

---

[۸۳]. وګوره: Pars Today ويبپانه 17/ 5 / 2017م

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې د ترحم ولوله او جذبه نه راپيدا کيږي، د داسې پريوتو او ځپل شوو وګړو د ژغورنې لپاره دې کوښښ نه کوي، يا لدې تباهۍ څخه د نورو مسلمانانو او انسانانو د د ژغورنې او ساتنې لپاره دې کوښښ نه کوي؟

٢ –د حکومت لخوا په اخلاص او ريښتيولۍ سره پر مخدره موادو پابندي او هغه يو ستر جرم ګڼل.
بايد چې حکومت د شرعي قوانينو د نافذولو د ژمنې له مخې د نورو جنايتونو او جرمونو ترڅنګ د نشه يې او مخدره موادو د استعمال، پير او پلور او پر هر ډول معاملاتو باندې په صدق سره بنديز ولګوي،نه داچې د حکومتي دوايرو له لارې د داسې جرايمو د ترسره کولو لپاره لارې هوارې شي..

ايا زموږ حکومت به د سعودي شاهي حکومت غوندې داسې يو اقدام وکړي چې له مخې يې د مخدره موادو معامله کونکو ته سخته سزا ورکړل شي؟ د نوموړي حکومت د علماو مجلس او اړونده ديني سرچينې د مخدره موادو سوداګرئ، ترويج او بيلابيلو معاملاتو په وړاندې د شرعي دلايلو په رڼا کې دې لاندې نتايجو ته رسيدلي دي:

الف. هغه څوک چې مخدره مواد قاچاق کوي د هغه سزا وژنه ده؛دا ځکه چې د دې توکو په ليږد او قاچاق کولو باندې پر هدفي سيمو کې ستر زيانونه او تاوانونه رامنځ ته کيږي.

ب. هغه څوک چې مخدره شيان ترويج کوي، برابره خبره ده چې د روږدو د استعمال لپاره يې مهيه کوي، يا يې راواردوي، يا يې ډالۍ کوي، که يو څوک داسې کار د لومړي ځل لپاره وکړي، نو پر بند ، درو وهلو، مالي تاوان او يا پر بدني سزا (درو وهلو) او مالي تاوان ورکولو دواړو باندې به مجازات کيږي. او که چيرې دا کار بيا هم تکرار کړي، د هغې تعزير او سزا زياتيږي او کيدای شي د هغه پر وژنه باندې تمامه شي.

دغسې سخته سزا چې بالآخره پر وژنه باندې تماميږي دا د دې لپاره چې د مخدره موادو کارو بار او ترويجول په ځمکه کې له هغه فساد او تخريب څخه کم نه دی چې له امله يې خلک لوټلی او وژلی شي.

د فقهې په کتابونو کې ذکر شوي دي هغه بريد کونکی (لوټمار) چې له خپل کار (لوټمارۍ جرم) لاس وانخلي، نو هغه دې وتمبول شي که څه هم پر وژنه سره وي.[٨۴]

---

٨٤. وګوره: فتاوى إسلامية:379/3 ( الإسلام سؤال و جواب (www.islamQA.ifor).

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دکتور دوهبه الزحیلي صاحب وایي: فقهاء پدې متفق دي چې څوک بې له عذره (د درملنې له اړتیا څخه پرته) کوم مخدر شی استعمال کړي، د هغې لپاره تعزیر (اړونده لازمه سزا) ده، که هغه یې پر رټلو، وهلو، بندي کولو، د خلکو پر وړاندې اعلانولو، مالي غرامت او داسې نورو سره وي، هره کومه سزا چې قاضي او یا حاکم یې ورته تجویز کوي؛ د دې لپاره چې نور خلک ورڅخه عبرت واخلي او څوک هم د جرم او ناروا شیانو په کولو سره جرات ونه کړي.

حنفي او مالکي فقهاوو دا روا ګڼلې چې دغسې تعزیر کیدای شي وژنه هم وي، چې هغې ته سیاسي وژنه ویل کیږي، کله چې حاکم پکې مصلحت وګوري او د جرم نوعیت د وژنې موجب وي لکه داچې یو څوک په تکرار سره د نشه یې یا مخدره موادو کار ترسره کوي ( او خپل عادت یې ګرځولی وي) یا داچې د هغې له امله په جرمونو کې اخته وي، یا د لواطت او یا قتل په کارونو کې ملوث وي. نو پدغسې حالاتو کې د روږدي کس وژنه د ځینې معاصرو هغو مفتیانو لپاره دلیل دی کومو چې د داسې یو قانون مشروع ګرځولو وړاندیز کړی چې د هغې پر بنسټ د مخدره موادو استعمالونکي او یا معامله کوونکي په دار ځړولو سره اعدام شي، چې پدغسې کړنلاره کې به د مخدره موادو سوداګرو، قاچاق کبرو او د هغې استعمالونکو لپاره پوره عبرت او درس اختسنه وي.[85]

۳ – د روږدو د درملنې او د هغوی د مشغولولو لپاره خاص بنسټونه او مزکزونه جوړول:

په موجوده وخت کې د روږدو او معتادینو ددرملنې لپاره چې کومې هڅې روانې دي هغه کمې دي،نو باید چې حکومت او اړونده ارګانونه پدې هکله جدي پاملرنه وکړي او کیدای شي د ځینو هېوادونو له تجاربو څخه پدې هکله استفاده وشي او د یو ځانګړې برنامې له لارې له یوه اړخه د روږدو د تداوۍ لپاره روغتونونه زیات شي او له بله اړخه داسې بنسټونه جوړ شي چې په هغې کې روږدې کسان تر هغه وخته وساتل شي چې د اعتیاد له حالته ووځي او پدې اثناء کې د هغوی د جسمي ظروفو برابر د مناسبو کسبونو په زده کولو باندې هم بوخت شي.

۴- د هېواد هغه سیمې چې د کوکنارو په کر باندې یې زیاته اتکا وي، باید چې د دې کښت په معاوضه کې ورته مناسب بدیل ولټول شي، لکه د هرات په ځینې ولسوالیو کې چې د زعفران بوټي کښت او کر رامنځ ته شو، همداراز له دهقانانو سره لازمې مرستې وشي،چې د هغوی

[85]. وګوره: الفقه الإسلامي وأدلته, وهبة الزحيلي ۷/ ٤٥٠-٤٥١

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي ستونزي حل شي او دغسې ناروا کښت ته بیا اړ نه شي.
۵- د اسلامي سپیڅلي دین له مخې قانون د حاکم او رعیت ټولو لپاره دی، نو پدې اساس هغه چارواکي چې د شرابو په کارو بار یا د هغې په څښلو کې ملوث دي هغوی هم د مجازاتو لپاره د قانون منګلو ته وسپارل شي، همدارازلکه څرنګه چې د رعیت عام وګړي د نشه یې او مخدره توکو پر کاروبار باندې مجازات کیږي، باید چې چارواکي او یا زورواکي هم وربانډې مجازات شي.
۶- د مخدره او نشه یې توکو پر ضد مبارزه کې باید چې د شرابو پر معاملاتو باندې هم سخت بندیزونه ولګول شي او د اسلامي سپیڅلي شریعت له مخې پر شرابیانو باندې حد جاري کړای شي،څو د دې ستر جرم پر مخنیوی کې لازم پرمختګ وشي.
۷- د چرسو په کارو بار باندې سخت بندیزونه ولګول شي،د چرسو معتادینو ته هم د اسلامي شریعت له مخې اړونده سزا ګانې اعلان او وربانډې تطبیق شي، همدرانګه چرسیانو ته د درملنې پر موخه مناسبې لارې چارې ولټول شي، توبه ویستلو ته اړ شي او دهغوی له ځواک څخه دهېواد او ټولنې په دیني او دنیاوي پرمختګ کې لازمې ګټې واخستل شي.
۸- که زموږ په هېواد کې شرعي حدود نافذ شي مثلا د غل لاس پرې شي، شرابخور په درو ووهل شي، زناکار ته هم خپل ټاکلې سزا ورکړ شي، خائنان او رشوت خواره د تعزیري سزا له مخې په مجازات شي،د شرعي لارښوونو په رڼا کې د غاصبانو، لوټمارانو او دوکه مارانو.. مخنیوی وشي، د مخدره موادو قاچاق بران محاکمه شي، نو تاسې څه فکر کوئ، په ټولنه کې به دا موجوده ناخوالې لمنځه ولاړې نه شي او یا لږ ترلږه کمې به نه شي؟
زموږ د هېواد - چې تش په نامه اسلامي جمهوریت دی-د قانون او دستور په ځینې مادو کې یې پر اسلامي شریعت باندې د عمل او دهغې د پلې کیدو ژمنه شوې، لکن هغې ته د عمل جامې نه وراغوستل کیږي او ځینې هغه موارد چې د بشر حقوقو سره په ټکر کې راځي او د غیر سیاسي جرمونو پورې اړه لري لکه په ناحقه سره وژنه، زنا، شرابخوري، نو د هغې پر تنفیذ کې اړونده ارګانونه او محاکم ناغیرې کوي، کله چې په هېواد کې داسې وضعیت دی چې یوازې په نوم اسلامي ګڼل کیږي او اسلامي قوانین تش د کاغذ پرمخ شتون لري عملي بڼه یې نه لیدل کیږي، نو څرنګه به مو هېواد او ټولنه لداسې سختو او سترو جرمونو څخه پاکه شي او څنګه کیدای شي د ناکراریو، جګړو او بې اتفاقیو له ناخوالو او ستونزو څخه وژغورل شوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- هېوادوال پدې پوخ باور ولري چې زموږ د ټولو مشکلاتو او ستونزو حَل یوازې د خپل سپیڅلي دین د لارښوونو په پیروۍ کې دی او له کومو ناخوالو او نامناسبو حالتونو سره چې مخ یو اساسي علت یې د خپل دین له ښوونو څخه وروسته والی دی. او په هیواد کې مو چې کومې ناکرارۍ، ناآمنۍ او بیلابیل مشکلات دي لومړی لامل یې دانسان جوړیدنې ته نه پاملرنه او د مطلوب نظام نشتوالی دی،نو ترڅو چې په هیواد کې لومړیتوب انسان جوړونې ته ورنکړ شي،سم اسلامي نظام جوړ نه شي، پر منصب او وظیفې باندې ور، امین او رېښتونې وګړي ونه ګمارل شي، مافیایي کړۍ ماتې او ختمې نه شي، د زوراکیو، درغلیو، خیانتونو او غصبونو مخه ډب نه شي، بیت المال د ټولو هېوادوالو حق ونه ګڼل شي،د ظالمانه طبقاتي نظام جرړې ونه ویستل شي او په هېواد کې په واقعي معنی سره اسلامي نظام - چې بنسټ یې عدالت او انصاف دی- قایم نه شي، نو بیا پدې هېواد کې امن،د نظام پایښت، آرامي، سوکالي، اقتصادي پرمختیا رامنځ ته کیدل ،د فقر او بیچاره ګئ، د نشه یې توکو او نورو ناخوالو او ستونزو ختمیدل نا شوني او مستحیل دي.

نو راځئ چې د هېواد او ټولنې د ستونزو او ناخوالو لمنځه وړلو، ثبات او استقرار راوستو، امن، هوساینې او ژغورنې په خاطر د خپل سپیڅلي دین د اقامې او د هغې د شریعت د پلي کولو لپاره یو بل ته په اخلاص سره لاسونه ورکړو او پدې لار کې رغنده هلې ځلې او ثمره ښونکي کوښښونه وکړو.

محصل غازي زاده

نیټه: ۱۵ ذو القعده ۱۴۴۰ هـ ق,۲۷ /۴/ ۱۳۹۸ لمریز

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**